

هوا
هوا
هوا
هوا
هوا
هوا
لنډې کيسې
محمود نظری

# مننه

زه د دې تولګې د لندو کیسوپه برخه کې د استاد حبیب الله رفیع او واحد نظری څخه د زړه له کومې مننه کوم.

چې دا تولکه یې کتلې ، سمه کړې او ګټوري مشورې یې راکړی ،کورودانی ورته وایم.

همداسی د یما نظری نه دکمپوز او دیزاین په برخه کې مننه

کوم.تل دې بریالی وې.

د چاپ،ترتیب او طباعتی چارو په برخه کې د محترم اسدالله دانش نه مننه کوم او کورودانی ورته وایم.

په درنښت

پوهنمل محمود نظری

لندن ۲۰۰۷

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# د کتاب پېژندنه


د(هوا) فضا او هوا ..... ۳
هوا ..... ٦
لالکو ..... ۱۱
پایلوچ کپه نظر ماد ..... ۱۷
هیخ ..... ۳۳
توره واوره ..... ٤٤
بخت ..... ٤٨
وږه انجلی ..... ٥٩


Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# د(هوا) فضا او هوا

دبناغلي محمود نظري د(هوا) ټولګه دپښتو د داستاني ادبياتو يوه خوږه او د لوست وړ مجموعه ده چې هره ليکنه يې بېله هوا اوفضا لري ، هره يوه يې دژوند يو بيخي بيل ا ړخ څيري ، هره يوه سره بيل اوږده زماني واټنونه لري ، فولکلوري کيسې هم پکې را هنري شوي ، د پايلو ځا نو او کا که ګا نو يا دکندهار په اصطلاح دناميا نو د هيښوونکو کارنا مو انځورونه هم لري او زموږ د وخت خونړی اود ردوونکی پيښې هم پکې ادبي شوي دي .

له دي کبله چې د(هوا ) د ټولګې هره داستاني ليکنه خپله هوا لري نوځکه مجموعي تبصره نشي پرې کيدلای ، پريوه – يوه ليکنه يې په لنډيز غږيږو اوحا ل او هوايې ښيوو.

ددي ټولګې پيل د (هوا) له لنډې کيسې څخه شوی اوزموږ د بحران ددورې د پيښوديوتريخ وا قيعت در دوونکی انځورپکې شوی اودهغو حيوان ډ وله کسانوډکړو وډ و يوه بيلګه ده چې دانسان له وژلو سره يې دانسانيت وژلوته لاس غځولی دئ .

دلنډې کيسې يو تعريف دادئ چې که وا قعيت هم نه وي خوداسې پيښې پکې راشي چې د پيښيدو امکان ولري ، خوپه دې لنډه کيسه کې داسې پيښې راغلي چې پيښې شوي، اما د انسانيت په نړی کې يې پيښيدل ناشونی کار دئ خووحشيانوته يې ترسره کول عادي خبره ده ، له همدې کبله که چاته داپيښه چې په ۱۳۸۰کا ل په شمالي کې دطا لبانو دماتي پرمها ل پيښه شوه ، څرګنده وي نومني يې ، اواوښکی پرې تويوي ، خوچا ته نه وي معلومه اويا په کومه بله ژبه وژباړله شي نو منل به يې ورته سخت وي ولې ډيره هيښوونکی اود اريانوونکی خبره داده چې ، دې اودې ته ورته پيښوعاملين اوس هم د دولت په لوړوارګانونکي کارکوي .



www.tanzona.com
Copyright: www.tanzona.com

د(( **هوا** )) لنډه کیسه هم دلنډې کیسې دلیکنی دفن له مخې په تول پوره ، درنه معیاري ده اوهم یې د موضوع له اړخه دانسانیت په وړاندی ددې جنایتکارانوجرم دابدي ادبي یادګارپه توګه رامنځ ته کړی دۍ .

د لالوکیسه دجګړی دترخوورځو شپو یوه خوږه خا طره ده چې ددې ترخوشیبو ددوستی اوصمیمیت انځورابدي کوي .

د (( **پایلوخ کپه نظرماد**)) کیسه سړی دکندهارهغو آرامو اوخوښووختونوته بیایي چې دارغنداب په غاړه اودبابا صاحب دغره په لمن کې به مېلې کیدې ، لوبې اوساتیری به کیدې اودجمعې شپې به رونیدلې اوورسره دپایلوچانویا دکندهارپه اصطلاح دنامیانو د ژوند بیلا بیلې صحنې انځورشوي چې زماله نظره ترکیسې زیات له هغوکسانوسره ډېره مرسته کولای شي چې دپایلوچا نو پرژوند څیړني کوي اودتولنی ددې ځانګړی ډلې کړه وړه ، ناسته پاسته ، راشه ، درشه ، کالي خبری اصطلاحات نړی لید او اتلولي څیړي .

د (( **هیڅ** )) ترسرلیك لاندی فولکلوري نکل د یوه بې لاري قاضي په باب یوه ښکلی کومیدي کیسه ده چې دبنوال ښځې په خپله هوښیاری درنه سزا ورکړی ده ، خوکیسه اساساً فولکلوري کیسه ده اوپه فولکلوري کیسه کې ژبه هم فولکلوري  په کاروي چې نظري صاحب هغه په خوږه داستاني ژبه را اړولی اوکیسي ته یې یونوی رنګ ورکړی د ۍ .

د(( **احمدوف**)) په نامه کیسه د کمونستي خونړی واکمنی دوخت له ګنود یته ورته

پیینو یوه نمونه ده چې نوموړی په زوړله خپلی کورنی نه وړل شوی او۲۵کاله هرڅه بې خبره وو، خویوی سپین سری روسی میرمنې داهیله ورسره پیداکړی وه چې هیواد ته به ستنیږي، پردې ځوان دهیلواو نهیلی په درانه کشمکش کې پنځه کاله وځي ، داهم زموږ دهیواد ، د بحران د دورې دپیښویوه دردوونکی نمونه ده چې دلنډې کیسې په لمن کې په ډیرښه ډ ول را نغښتل شوې ده .

د(( **بخت**)) فولکلوریکه کیسه یوه لنډه ښکلی کیسه ده چې د ګنوتلوسووروسته دیوی



www.tanzona.com

خندوونکی مایوسی په ځیوکې ډوبیږي خوبیاهم فولکلوري کیسه ده اوژبه یې ادبي شوی ده .

(( **وره نجلی** )) یوه ډیره وره اولنده کیسه ده چې زموږ دټولنې له یوبل اړخ نه پرده پورته کوي اوپیریو، پیریو داستبداد یوه ځنده راښیي .

په دې ترتیب دا ټولګه دداستاني لیکنو یوه په زړه پوری ټولګه ده چې په خوږه ژبه لیکل شوی او په خپله غیره کې دافغانستان دخلکود ژوند ډیراړخونه رانغاړي اوپه مهارت یې انځوروي . همدا راز فولکلوري کیسې هم زموږ داولس دادبي اوهنري خلاقیت اوفکري لطافت ښی نخښی دي چې له زرګونو کلونوراهیسی دهمهغو هدفونوله پاره را منځ ته کیږي چې لنډې کیسې یې لري اوهم دا کیسې داسې هنري اړخونه لري چې اکثره یې دلنډې کیسې په هنري چوکاټ کې ترمطالعې اوڅیړنې لاندې نیولای شو، نظري صاحب ځوداسې کیسې هم په خپله ټولنه کې هنري کړی دي .

ښاغلی محمود نظري زموږ د معاصري کیسه لیکنی یوپیاوړی اوماهرلیکوال دئ ، له یوې خوايې خپله ټولنه زور او زیر څیړلې ، له بلې خوادخپل فولکورپه ژورو ورننوتی ، له بلي خوايې انديوالی کیسه لیکنی پراخه مطا لعه کړی اوله بلي خوا پرخپله ژبه ښه مسلط دئ اوپه ښکلي اوخوږه ادا خپل فکر او هنرڅرګندولای اوپخولای شي .

زه ددې ټولګي خپرول د پښتودهنري نثر په نړی اولړی کې یوښه ګټوراو خوندور زیا تون بولم اولیکوال ته یې مبارکي وایم .

په درنښت

حبیب الله رفیع

دافغانستان دعلوموااکاډمی ، کابل

۱۳۸۶ .۱۸.۳



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

# هوا

دو صد شد بسته کو! ږغ سره د کانتینر ور له بهر نه وتړل سو.د دوبي د لمر سوځونکو وړانګو له کانتینر نه سور تنور جوړ کړی وو له دیوالو نه یې لکه د سرې تبې بړاس پورته کېده، د هر چا لاس، پښه یا مخ به چې ترې ومونښت د آه! کریغه به یې له خولې ووته.

هلته لکه قبر توره تیاره وه، تکه توره شپه وه، څه نه ښکارېده، ښنګ تر ښنګ ولاړو تخته سوو انسانانو یو بل نه لیده، هوا بنده وه ، هلته کومه کړکی، سوری او یا درز نه وو، دا تنور وو چې انسانان په کې اچول سوي وه.

د کانتینر په اخیر کې د تبې غوندي سره دیوال ته یوه ډېره لګولې وه په دوو ګوتو په داسي حال کې چې زنګونونه یې پورته درولي او لاسونه یې پر راڅرخولي وه ناست او په دوو ګوتو یې تسبې اړولې او ورو ورو یې له ځانه سره څه زمزمه کوله.

تودوخه، تیاره او د هوا نستوالی او د ځای تنګوالی د پسو غوندي تخته سوو انسانانو ، غلبلې، شور، بکاو،چیغې ، فریاد ،اوف خدایه! ناري ، زګیروي او کوکارو د کانتینر فضا ډکه کړې وه:

هوا! هوا! هوا !هوا!...

یوه په بوغارو بوغارو ویل:

آه خدایه! استا په دې ارته نړۍ کې داسي انسانان هم سته چې هوا یې په بل نه ده پیرزو!

د یوه سپین ږیري زګیروی وو په خوله کې یې ګوتې اچولې وې او نور یې له ځانه پوري وهله او ناري یې واهلې:

هوا! هوا! ...

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

خو په ولاړي يې په سلګی سلګی سا ورکړه، اوپه یو بل ولاړ ور ولوید،هغه ږغ کړه : وروره ځان تینګ که !خو د هغه بدن لکه لرګی وچ و.

هغه سړی بیا ناري کړه: دا خو مړ دی!

یوه وویل:

وروره همداسي پورته يې تکیه که!

یوه بل په خواشینی ږغ کړ:

وړونو د کانتینر دیوالونه وډبوئ!

هغه چي د کانتینر دیوالو ته نژدې وه د کانتینر په ډبولو يې پیل وکړ،چا په لاسو، چا په پښو ،چا په خپلو چمپلانو او چوټو، چا په خپلو څنګلو د کانتینر دیوالونه ډبول، دې ډبولو ازانګي جوړې کړی وې:

ډبه ډبه... ډبه ډبه... ډبه ډبه...

خو بهر هغه چا نه اوریده لکه چي ټول کاڼه او ړانده سوی وه یا ربوټان (کمپوتری انسانان) وه یا يې سر نه خلاصوه یا له خدایه نه ویرېده...

نور په پښو ، لاسو او څنګلو کې توان نه وو پاته نو سرونه يې د وسپني دیوالو ته ونیول:

ډبه ډبه... ډبه ډبه.... ډبه ډبه...

د کانتینر دیوالونه په وینو ورنګېدل او لکه په تبی چي اوبه واچوې د وینود وچیدو بړاس ترې پورته شو.

خو دا چا نه اورېده لکه چي بهر د انسانانو په څیره کې ژوي ولاړ وه.

نور نو د نهیلی څپه خپره شوه خوړمن زړونه نور هم نا اومېده او خوابدی سوه د یوې شېبې لپاره چوپه چوپتیا سوه. د لسو- دولسو تنو پښي سوستی او بې واکه سوې او پر نورو ورولوېدل هغو نورو ته دهوا د بچت په خاطر ځانونه زندی کړی وو.



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

په سترګو ایله اوس دومره ښکارېده چې څوک مړه او څوک ژوندي دي خو هر ژوندي یو مړی په غېږ کې نیولی وو او دواړو رډ رډ سره کتل. یوه نارې کړه:

شهیدان د کانټینر و اخیر ته یو د بل په سر پرېباسئ!

د مړو تیرول دا زګیروي او نارې نوري هم زیاتې کړې همدا دبې وسو او بې کسو د ناومیدي زګیروي وه.

هوا! هوا! هوا!.....

یوه نارې کړه:

وګورئ وړونو د کوم سورې او درز پسې وګورئ!

یوه د اورلګیت د خاشې په اندازه یو سوری وموند او له خوشالۍ یې چیغې کړې دا دئ یو سوری او هڅه یې کوله دا سوري غټ کړي او نوکان یې ورته ونیوله:

ګریږه ګریږه....

هر هغه څوک چې ځګندن ته نژدې و هغه به یې د خاشې سوري ته ورنژدې کړ او هغه به چې خپله خوله د کانټینر دیوال ته ور وړه د شونډانو به یې جز سواو پوست به یې د کانټینر په سور دیوال وموښت.

یو ځوان چې خپله سینه یې په سوک ډبوله او سا یې په اوږو شړله، اېشیدلې تبه یې وه، ژبه یې له خولې راوتلې وه او په سا نیولې سا نیولې ږغ یې ویل:

هوا! هوا! اوبه !

یو هلک چې د پنځلسو - شپاړسو کلو وو خپل خامکي دسمال چې د خور د لاس نښه یې وه په خپلو خولو لونداوه اود هغه په شونډانو یې تیرا وه.

دې ځوان دا هلک وپیژاند او ورته یې ورو وویل:

جانانه! او څو ځله یې سترګې ورپولې او زیاته یې کړه:



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

داتوله زما مور ته ووایه!

او په وړو وړو سلګیو يې په ولاړی سا ورکړه.

د بهر نه بیا د مرمیو ږغ پورته سو دلته بیا ډبول پیل سول:

ډبه ډبه... ډبه ډبه... ډبه ډبه...

یوه پر سوری سترګه برابره کړه، با نه یې پر دیوال وموښتل خو څه یې ونه لیدل.

یوه په خولې کې ګوتې اچولی وې او خپله خوله یې سره کشوله، سینه یې راپړسیدلې وه ژبه یې راوتلې او شونډان یې رپیدل ،خو له خولې نه یې څه نه وتل تول بدن یې رپرېدېده، پر جانان یې تکیه کړی وه جانان به خپل خامکی دسمال په خپلو خولو لوند کړ او د هغه په شونډو به یې ورتیر کړ،نبض یې زیات په غورځېدو سو

هغه د جانان په وینو لړلی لاس ونیوی د هغه په سترګو کې اوښکې لغړیدې مازی یې د ومره وویل:

جانانه! دا زما.. زوی ...زوی..

نور یې ژبه ګنګوره سوه.

له سترګو تور او سپین یې سره ولاړل لاسونه او پښې یې سوست سول اوولوید، جانان هغه تکیه کړ. اوهغه یې لاس په لاس د کانتینر پای ته تیر کړ. یو بل بیا لاسونه لپه نیولی او سا یې ورکړی وه او همداسې  شخ پاته و.

شیړو- اووتنوچې سرونه یې د وسپنې له دیواله سره جنګولی وه یو د بل پسې سا ورکړه.

جانان په خپلو خولولوند دسمال د یوه یوه په خوله  او شونډانو موښه، د اخیر نه د دعا ږغ  بند سو ، د هوا هوا ناري وار په وار کمېدې.

یو یو لا اوس هم  سوري ته ورنژدي کېده  خو سوري هم هوا ورته نه پرېښودله.



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

د جانان و سترګو ته يې خور ودريده هغې ورته ويل:

زما د لاس نښه ورکه نه کړې...

. د جانان بدن هم سوست سو خور يې ورته کړې وړې ليکې سوې او دا ليکې يې سترګو ته يې دوري هوري کېدې، اوړې يې درنی وې خپل خامکي دسمال يې په لاس کې ټينګ کړ

نوره چوپه چوپتيا خپره سوه.

کله چې د کانتينر ور پرانستل سو د هغه مړې اوژوندې لکه د نورو کانتينرونو يوې کندې ته وغورځول سول. د جانان لاسونه وښوريدل او چيغې يې کړې خو بيا هم چا نه اوريدل، خلکو ورته کتل او وربانډی يې خندل او بيلدوزر خاوری وربانډی تويولې.
جانان ايله په وينو او خولو لړلی خامکي دسمال له خاورونه را بهر کړ او هغه يې د دې ټولو شهيدانو جنډه وګرځوله.

جنډه په رپيدو سوه تر اوسه دسهار نری وږمې د دې کوشنی جنډی د رپيدو د ږغ موجونه تر ليروليرود خلکو تر غوږو رسوي. او وايی:

هوا!هوا!



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

# لالکو

یو په سن پوخ سړی او دوه ځوانان په ماله جات کې د یو چا د کور پسې ګرځېدل په لاره کې یې دوه سړي ولیدل چې توتان یې ښندل دوی ته یې ږغ کړل :راسئ دا ځولی را سره ونیسئ!

دوی هم راغله له سلام وروسته یې د ځولی کنجونه ورسره ونیوله او د توتانو له ښندولو وروسته یې د هغو سره روغبړ وکړ هغو ورته وویل:

- داسي مالومیږی مساپریاست ! ددې ځای نه مالومیږی ،لکه چې د کوم بل ځای نه راغلي یاست.

ستړي مه سئ! خدای مو راوله!

- هو، موږ له مزاره راغلي یو او لالکو مو په کار دئ .

-کوم لالکو؟

- هغه چې اوس به په سن پوخ وي ، پر راسته باړخو یو د کالداني تپ لري، او د جهاد په وخت کې د ماله جات په پوسته کې و.

- بنه !ماما لالک بنیې!

بنه زما زوی به درسره ولاړ شي لومړی راځئ دا توتان سره وخورو.

د توتانوله خوړلو وروسته یې د د شلومبو کونجی په سر پورته کړې.

هغو و رته وویل :

که غرمه راسره وکړئ خوشاله به شو !



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

مساپرو وویل:

- یا غواړولومړی هغه ووینو!

نو یو هلک د هغو سره رهي سو

د چوغکو چنهار، کرېږ وږي لارو ، ونو،ديوالونو، مورېو او نخرو تولو ښه راغلاست ورته وايه او ورته يي خندله.

هلک یو سړی ته چي په مامته کي یي کار کاوه ناري کړل:

ماما! دا مېلمانه مي درته راوستي دي. هغه لاسونه د خاورو تک واهله په لمن يي پاک کړه، لمن يي بېرته ايله او د مېلمنو خواته ورغی او هغو ته يي په وړين تندي ښه راغلاست ووایه:

-خدای مو راوله! هرکله راسئ.

مساپر لالکو ته وويل:

- لکه چي زه دی ونه پيژندم ؟

زه بېندی والا یم .ځرېدلی بریتو والا. کلچه مخی ...

لالکومساپر سر تر پایه تر نظر تير کړ او بیا يي هغه په غېږ کي ونیوی او ښه ګړی يي يو بل په غېږ کي سره و نيول..

بیا مساپر خپل دوه ملګري هلکان ور وپيژندل:

- دا ستا غلامان دي: یو يي عبدالرحمن پالوان او دا بل يي نواب پوسخندي دئ .

د دي نومونو په اورېدو د لالکو سترګي له اوښکو ډکي سوي ،اوښکي يي د لاس په شا پاکي کړې، خپل پټو يي مساپرو ته اوار کړ او خپله په نګواښېدولوپېښه د کور خوا ته رهي سو.

www.tanzona.com Copyright:



www.tanzona.com

مساپر د لاکو د پښې په لېدو په چورت کې لاهو سو او د ژوند تودې او سړې یې په یاد سوې:

«. دی یو کال مخکې له حربي پوهنتون نه فارغ سوی و او بیا کندهار ته تبدیل او د محبس په پوسته کې یې دنده لرله دا یې لومړی میاشت وه چې کندهار ته راغلی و،یوه ورځ د منشی جبار سره د سودا لپاره دوکانو ته وتلی و چې تر شا یې کوم یوه وسله پر ونیوله او ورته یې ویل:

له سړکه لاندی شوه سئ! کنه دواړه همدلته چغتان وم.

او هغوی یې دواړه خپلې پوستې ته بوتلل .

د پوستې اندېوالانو ترې په هېښتیا پوښتل :

داخنزېران دی څنګه راوستله؟

هغه هلک چې دوی یې راوستی وه په بې تفاوتی وویل :

دا مې د بېنډې پخولو لپاره راوستې دي، زه نور والکه بېنډی پخې کم .سر له ننه زماد بېنډیو پخولو وار دوی کوئ .

نادر چې د پوستې کومندان وو ور نارې کړل:

دوی دې تلاشي کړي دي؟

او تا خو وسله نه وه وړې هغه دې څنګه راوستله؟

هغه مینځنی ګوته ورته ونیوله او په خندا یې وویل:

په دې ډول .

نادر د هغو نه ویوښتل:

تاسو وسله -مسله نه لرئ ؟



www.tanzona.com

پر هغو چې سرونه ځړیدل وویل:

-نه،

د دې خبرو سره سم نادر ولاړ سو او لومړی یې تورن جبار تلاشي کړ د هغه له جیبه یې د مکاروف توپنچه راویستله.

مخ یې د جبار خوا ته کړ او هغه ته یې په غوسه سره وویل:

تا خو ویل وسله نه لرم .

جبار هغه ته کنګوړه سو او سر یې کښته و

ځړاوه .

نادر د توپنچې مرمی تېره کړه اوتوپنچه یې د تورن جبار سر ته ونیوله او ماشه یې کش کړه.

بیا یې دی تلاشي کړ د هغه په جیب کې وسله نه وه نادر د هغه سر ته هم د جبار توپنچه ونیوله.

لالکو د هغه ومخې ته ودرېد او ناري یې کړه:

دا ولا که مړ کې دا زما بیندی والا دئ.

لالکو وړې پورته وغورځولې او ویې ویل:

هر چا که ده ته څه ویلي وه ماته به یې ویلي وي.

ده یوازی د لالکو د بېنډویو د پخولو وار تیروی او کرار کرار د پوستې د تولو غړو سره روزد سو او ډیربیا د پالوان او پوسخندی سره. پالوان به داشکه او درانه شیان پر شا وړل او تل به غلی ناست و، او له نواب نه بېله پوسخنده څوک نه وو پاته ، په هر یوه یې نوم ایښی وو لالکو ته یې کچل وایه پر ده یې د کولچه مخي نوم کیښود



www.tanzona.com

خو هغوی دواړه نواب او پالوان د سر پوزې په جنګ کې د ټانکونو او روسی الوتونکو له خوا شهیدان سول . لالکو او نادر د هغو په وینو لژند مړي تر پوستې راوړل.

له هغه ورځې وروسته نور نو لالکو او ده او ټولو انډیوالانو ته پوستې خوند نه ورکاوه نور د غرمې خوب له ټولو له سترګو ولاړ ،نور د کلاشنکوف لوګي چا ته خوند نه ورکاوه ،هر څه یې بې خوند ه سوی وه . نورسارایې ګلانو رنګ نه درلود، نوره ډوډی په خندا نه پیل کیده اوس قابونه ډک ډک پاته کېده.....

کله چې روسان له وطنه ووتله نو لالکو دی دبس هډې ته بوت او د کابل په موټر کې یې کښیناوه د هغه له سترګو د اوښکو څو غټې څاڅکي توی سوې .

ده ورته وویل:

که بیا اړتیا شو بیا به ستا د بېنډویو پخولو وار زه کوم!

دواړو سره وخندل

لالکو ورته وویل:

چې پالوان او پوسخندی نه وي نو بیله هغو پوسته کله خوند کوي ....»

چې د مساپر چورت دغه ځای ته ورسېد د لالکو له کوره یو هلک کمبله او کوربچه او یوبل هلک په لاس کې ګډوه او دستشوی وه او د لالکو دستر خوان په لاس کې وه راووتل.

لالکو نارې کړه:

چې تیار وي هغه د یار وي!

او بیا یې هغه دوه هلکان و مساپر ته وروپېژندله:

دا دوه ستا غلامان دي یو یې پالوان او دا بل یې نواب نومیږی .

طاهر هغو ته وکتل او بیا یې وویل :



www.tanzona.com

اوس مې د بېنډويو پخول ښه زده کړي دي .

دواړه په خندا شوه او د دوی خندا د د شينوک ځرخکې په بڼغ کې ورکه شوه .

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# پايلوچ کپه نظر ماد

نن بيا لکه د پسرلي نوري د جمعې ورځي د بابا صاحب د زيارت د غره په شنه او سمسوره لمن کې د سپېدارو، ولو، اکاسييو... غټو غټو ونو تر سا يې لاندي مېله وه ، د ښار له هرې لورې زاړه، ځوانان او هلکان دې خوا ته رهي وه ، چې ورځ دلته په خوشالی تيره کړي.

دلته بيا د طبيعت هر بڅرکی اخته وو د خلکو د خوښی لپاره يې يو څه کوله : د ارغنداب د سيند د غړمبار او مستيو نه را پيدا سوي نری وږ مو د شنو باغو د شګوفي د مشکو او عنبرو بوی د ونو لاندي شيندی اود اوبو د ډکو لښتيو شور اوشرشربيا د ارغنداب د سيند د غړمبار سره په ګډه يوه د سازنغمه جوړوله.

د ونو پاڼي بيا له پايزېبو سره دې خوندوري نغمې ته زړه له اخلاصه تاو را تاواو نڅيدې او خپل يوبو اندام به يې ريږدوی او يوه يوه بهلا له مستی نه له ښاخو جلا او بې خوده سوه او په هوا کې به نڅېده.

چوغکې، بلبلان، ښوښوکی، چورندوکانو.... بيا غزلي او قوالۍ ورسره ويلي.

ګنه ګونه، باندارونه، لوبې، خنداوي، ټوکې ټکالي، خوشالی، شور او زوږ د رباب نغمه او له ليري نه د شپيلی ږغ بيا د اوبو د ډکو لښتيو د شور او د ارغنداب د سيند د غړمبار له نغمې سره په ګډه يو لوی خپور آرکيسترجوړوی.

د کټوو، کبابو او تيينو بوی بيا د رنګارنګ ګلونو او شګوفو د بوی سره يو ځای دعطرونو سندوک(بکس) خلاصوی چې يوه زړه کښونکي خوشبويي يې خپروله.

د ځوانانو تر مينځ خوسی، غيرې، توپ ډنډه، پټېدونکی، ځغاستي... بيا دنڅېدونکو پانو سره يو دستجمعي اتڼ جوړوی.



www.tanzona.com

ډول ډول ګلونو بیا د ډول ډول خلکو سره چې د چا لونګۍ، د چا لنګوټې، د چا د مریو رغچینې، د چا خامکي غاړې، څوک لوڅ سر، څوک له سدرۍ او پټو سره بیا یوه منظره جوړوله.

څوک ناست، څوک ولاړ، یو یوازې ، یوه ډله، یو د ونې لاندې، څوک پر کمبلې، څوک پر غالۍ ،څوک پر پټو او څوک لا پر مځکه ناست ،چاکټوې باندې کړې ، چا شپیلی ته غوږ نیولی او څوک پتې(ورقی) کولې، چې دې ټولو بیا د منظرې رنګونه جوړوله.
نن بیا جمعه وه، بیا مېله وه، بیا مستې وه،بیا جم وجوش وو بیا بیروبار وو. د کبابو، تیینو او چایو پلورونکو تجیرونه وهلې وه، د هغو دود او بویونه په ګډا-ګډا د خلکو سږمو ته ځان رسوی او هغوی یې خپلې خوا ته راکشوله.

په دې جم وجوش کې نا بوبره سپاهیان  چې توپکونه یې  پر اوږو وه  په مېله ګډ سول، خلک هېښ پېښ پاته سول،  مېله یې پرېښودله او د سپا هیانو پسې یې کتله چې دوی بیا څه کوي؟

او سپاهیانو  بیا د مېلې هر سرې ته ځیر ځیر او شک سره کتل او یو یو به یې لا تر لاسه ونیوی او هغه لوی عسکرې خېمې ته چې هلته ولاړه وه بېوی او هلته بیا وهل  او ټکول...

د څو تنو د نیولو وروسته دوه سپاهیان یوې ډلې ته چې د ونې لاندې ناست او د شنو چایو پیالې ورته پرتې او د اغاګې ټوکو ټکالو ته یې غوږ نیولی وو ودرېده یوه ته یې چې اوږده شمله یې وه اشاره وکړه:

را ولاړ شه ځوانه کومندان صیب دې غواړي!

هغه ځوان هم بېله دې چې څه ووایې ولاړ سو، یو سپاهي تر مخ او بل تر شا د لویې خېمې خوا ته کوږ روهي سو.

هلکانو لوبې پرېښودې او خېمې خوا ته یې رش یووړ او هڅه یې کوله پوه سي څه خبره ده. خو سپاهیانو  هغوی په لښتو له خېمې نه لیرې کوله.

(نایب الحکومه غنی خان د امنیې کومندان ماد اکبر خان ته امر کړی وو چې د بابا صاحب په لاره کې څو لوچګانو خلک په عذاب کړې: د یوه نه یې په زوره هیندوانه


www.tanzona.com

اخېستې ده او له یو بل نه یې په زوره له پښو چوټې ایستلي دي.... نو ژر دا لوچګان پیدا کئ!

د امنیې کومندان بیا د جنایي امر لومړي څارن اسلم ته دنده ورکړې وه چې بابا صاحب ته ولاړ سي ، نو هغه دلته خېمه وهلې وه او د اوردو شملو والاپسي ګرځېدله).

جنایي امر اسلم په عسکري خېمه کې پر چوکۍ ناست او لښتې یې په لښتي کې ایښې وې او هره لو شمله والا یې بې پوښتنې را چپه کوۍ او لښتې به یې ورته ونیولې، ځینو به د دوو- درو لښتو وروسته په زاریو او ژړا سوه، د هغه د ژړا سره سم به امر جنایي په چاقو د هغه شمله ور پرې او لنډه کړه، وار چې د دې ځوان سو هغه خپله سدرۍ وایستله پوړ مخې پریوت، امر جنایي بېله پوښتنې وهل پیل کړه، د لسو – دولسو لښتو وروسته یې هغه ځوان ته وویل:

اکرار(اقرار) وکه!

ځوان چوپه خوله وو او هیڅ یې و نه ویل، جنایي امر لا په غوسه سو او هغه ته یې وویل:

که ما په تااکرار( اقرار) و نه کې زه خپل نوم اړوم!

او بیا یې لښتې ورته بندې کړې.

جنایي ا مرد څو لښتو وروسته بیاپه غوسه ورته وویل:

اکرار وکه چې دا کارونه تا کړي دي!

ځوان اوږې پورته او شونډان ورته بوخ کړل.

جنایي امر بیا لښتې ور ته ونیولې....

ستړی سو ، سا یې ونیوله او بیا یې هغه ته وویل:

اکرار وکه! نور دي نه وهم.

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

هغه په ځواب کې یوازې خپلې اوږې تر غوږو پورې یووړې لاندې شونډه یې رامخته کړه او سر یې ورو وښوراوه.

جنابې امر بیا لښتې ورته ونیولې، یوه لښته د ځوان په پلستر سوې لاس ولګیده او وینویې پلستر ته سوررنګ ورکړ، ځوان وه پلستر ته وکتل له ځان سره یې وویل:

کوتنه والا!

او په چورت کې ولاړ:

« دی د ګرشک په هده کې د یو سماوار په تخت ناست وو او چای یې کولې یو ځوان چې پتلون یې اغوستی وو هلته د ده مخې ته تو کړه. دی ور ولاړسو هغه ته یې وویل:

ماخستن میا صیب(صاحب) زیاته بزاتره!

هغه هم ورته وویل: سمه ده زیاته که پوهیږې!

ده تولـه شپه په میا صاحب کې ورته تیره کړه خو پتلون والا رانغی، نو ده هلته له ډیره خبنمه ځان خپله په چاړه وواهه.

نو د هغه راهیسې یې پتلون والا ته څه نه ویل ،که به هغه بنکنځل هم ورته وکړه پر ده بد نه لګیده نو په موسکا به یې له ځانه سره وویل: کوتنه والا دئ!

او په زوره به یې هغه ته وویل: زه د کوتنه والو سره جنګ نه کوم!»

جنابې امر په وهلو ستړی سو په چورت کې وو چې له ده سره څه وکړي؟!

په دې وخت کې د جیپ موټر د دریدو ږغ سو تول سپاهیان یو ه لیکه ورته ودریدله، موټروان له موټره تا سو او دروازه یې خلاصه کړه، محمد اکبر خان کومندان له موټره تا سو، اسلم جنابې امر په چټکی یو ګام ور مخې ته سو پښې یې سره وواهلې او راسته لاس یې تندي ته یووړ او یو څه یې ورته وویل اوبیا دواړه د مېلې خوا ته رهې سوه. اکبر خان مخې او امر جنابې وروسې سو، اکبر خان کومندان څه ویل او جنابې امر صیب صیب ورته کوله،محمد اکبر خان کومندان دورې هورې وګرځید او بیا د خېمې خوا ته ورغی



copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

او په خېمه ننوت ، پر چوکۍ کښيناست، خو سترګې يې پر هغه څهارشانه ځوان چې شا يې په ډېرو وهلو تکه شنه تغمې تغمې سوې وه پوړ مخې پروت او د ماتو لښتو کوټه ورته پراته وه ولګېدې په اريانی يې سر وښوراوه ورولاړسو د هغه خوا ته ورغی هغه يې پر شا وټکوی او ورته يې وويل:

ولاړ سه نامې!

ځوان هم ولاړ سو خپله لمن يې کښته کړه.

محمد اکبر خان کومندان مخ د امر جنايې خوا ته کړ او ويې وويل:

دی نه پېژنې؟ دا پايلوچ کېه نظر ماد دئ، هره ورځ کومنداني ته د مهرلګولو لپاره راځي

( اکبر خان ټول پايلوچانو ته حاضري اچولې وه هغوی هره ورځ راتلل او مهر يې لګوی)

ټولو سپاهيانو او امر جنايې هغه په غټو غټو ستر ګو سر تر پايه تر نظر تير کړ:

په قد ګردی اوڅهار شانه ځوان وو، غټو غټو تورو سترګو او تاوتاو پندو برېتو يې مخ ته يو خاص درونوالی او مېړانه ورکړې وه، د اوږده د لسو- پنځلسو مېتره ټوکر نه جوړ سوی چوڼ چوڼ پرتوګ نه يې د پښو بجلکي ښکارېدې. ترخيځې اوږد کميس يې وو او غټه لنګوټه يې چې په مخ يې لکه سايوان سايه کړې وه پر سر وه او تر ملا يې خردوم تړلی و.

کومندان اکبر خان کېه ته وويل:

تا ولې امر جنايې ته ونه ويل چې ته نظر ماد يې؟

کېه وټوخل، پزه يې کش کړه ، موسکا يې پر شونډو خپره سوه، جنايې امر يې سر تر پايه تر سترګو تېر کړ او په خاص غرور يې وويل:

ما يې شوق نه ورماتوی هغه ويل (که مې اکرار دربانډې و نه کی زه خپل نوم اړوم )او کټ کټ يې وخندل

اکبر خان ورته وويل:



www.tanzona.com
Copyright: www.tanzona.com

ځه نامي رخصت يې!

کپه خپله سدرۍ واغوستله، پټو يې له يوه کونجه ونيوۍ او کش يې کې او چې د پټو کونج يې تر اوږې ورسيدۍ نو کوږ کوږ رهي سو

اکبر خان و امر جنايي ته ورو وويل:

د کندهاريانو سره په خبرو کې پام کوه!

اسلم امر جنايي خپل د غوږو شا وګروله او له شرمه يې سترګې پر مځکه وګنډلې پر تندي يې د خولو ليکه رابښکاره سوه .

کپه په لاره کې ودريد شا ته يې وکتل سر يې وښوراوه له ځانه سره يې ورو وويل:

کوتنه والا!

او ورو ورو د باندار ځى ته رهي سو.

***

سهار د سپېدې چاودو مهال چې لا د لاس ګوتي سمي نه مالومېدې په سماوار کې يوه ځرېدلې ګځونه وښورېده او د يوه کرک ږغ پورته سو:

ميو ميو ټک پرک.

ميو ميو ټک پرک ...

د دې ږغ سره نوري ګځونې هم په ښوريدو سوې:

ميو ميو ټک پرک .

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

میو میو ټک پرک ..ږغونه راپورته سوه دا ږغونه د سوال او ځواب ډول کاوه، یوه به سوال کاوه څو به ځواب ورکاوه یا څو به سوال کاوه یو به ځواب ورکاوه .دې نارو د سهار چوپتیا ماتوله او زړونه یې خوشاله وله او تیز ګامه لاروي به یې لږ ټکني کړه.

د ناني کاکودسماوار مخي ته پیروی والا د ډکو سطلو اوکاشینو ، لاسي ترازو څو کانو او ماتو خښتو سره ناست وه. د سماوار شاګردان په جارو او د مساپرو د بسترو په تولولو اخته وه، یوه په ګډوه اودس تازه کاوه ، دوه بیا په داسي حال کي چي په پتو یي لاسونه او مخونه وچوله په تلوار د ماجد خوا ته رهي وه. د یوي بګۍوالا د چوچو ږغ چي مساپر یي د بسو هډې ته رسوله له لیري اوریده کیده او چوپتیا یي نوره هم خرابوله. په مېوو او ترکاریو بار د بوداګانو د غاړي د زنګولو ږغونه ترنګ وپرنګ ښار ته وار په وار را نژدي کېدله.

ټپین ستار پر خره سپور د ایخ ایخ په ویلوسره راورسید ،له خره تا سو ښیله دي چي د پیروي بیه وپوښتي د پیروي ډک سطلونه یي په خپل سطل کي چپه کړل او ویي ویل:

څو سوې؟

پیروي والا په ګوتو شمېرل پیل کړه: دوه سوه....

ټپین ستار ښیله دي چي د هغه خبرو ته تم شي د هغه په لمن کې یې ښه ډیري پیسي ورواچولي. پیروي والاټپین ستار ته په اریانۍ سره وکتل او له ځانه سره یي په خوشالۍ په پوټه خوله وخندله.

ټپین ستار له څنګ ډوډۍ پلورونکی نه څو تودې ډوډۍ چي پر میخو ځړیدې رانیولي بیرته پر خره سپور او د ایخ ایخ په ویلو په تلوار د باغ په لور رهي سو.

هلته په باغ کي توره چایجوشه د ده په انتظار ایشیده.

(برابري شپه دلته په میرزا ماد خان کلا چي د اغا جان په باغ کي بیا د نامیانو باندار و د باغ د مېوو د خرې( تولولو) په ځای کي کمبلي اواري وې د الیکینو رنا ته یوه ډله ناسته وه او یوه - یوه به په وار د چلم د سر خاني سکروټه تازه کوله او ورسره نکلونه هم شروع وه.شپه کرار- کرار پخېدله، سپوږمۍبه د تورو اوریځو شا ته یو وار نیامه او بیا

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

به ښکاره سوه،د نغري دود د باغ فضا ډکه کړې وه. د مادرزومیانو او پیریانو کیسې وې د شپې په پخیدو سره بیا دا کیسې لا تودیدې.

داود ویل زه یوه شپه ناوخته پر آس له ماله جاته سرپوزې ته رهي وم په لاره کې مې یو ورى ولیده چي بع بع یې وه ما له ځانه سره وویل:

دا به د چا له کوره راوتلى وي ګیدړې به یې مړ کړى، نو ورتا سوم هغه هم په دې نیت چې سبا به د هغه د مالک پوښتنه کوم، هغه مې تر شا پر آس وتړئ او رهي سوم دوه باغ لا نه وم تیر سوى چې د آس ستمی او زګیروى مې تر غوږو سو، ښه هغه ته ځیر سوم، هغه سا په اوږو شړله او نفسک یې واهه غوړونه یې ځړیدله، کرار کرار لکه په ختو کې چې خیژي تى؛ لاس مې د آس پر غاړه تیر کى په خولو کې لوند خېشت وو، زه اریان سوم چې دا ولې؟

خو د کوم شي د کشیدو ږغ زما دا اریاني نوره هم زیاته کړه، دېخوا هاخوامې په وارختايي وکتل ، یو شى راپسې ځکېدى. چې ورې ته مې وکتل د هغه پښې اوږدې سوې وې او پر مځکه راپسې ځکېدې ،د بدن ویښتان مې جګ- جګ ودرېدله، لاسونه او پښې مې سوست سول او زړه مې ډوب سو، لاره رانه ورکه سوه، نو سترګې مې پټې کړې او بسم الله مې کړه او په دوارو لاسو مې ورى له آس نه لاندې وغورځوى، آس وشیشنېدى د مخ پښې یې پورته او توپ( خیز) یې وواهه او په ځغاسته سو . ما سترګې خلاصې کړې کلمه مې وویل بیا مې تر شا نه دې کتلي ، خوشاله سوم خود نوشجان له ویالې لږ تیر سوم چې د یو باغ له مورى نه بیا د یوه وري بع بع سوه آس ودرید او شا ته یې زور واهه په ډیرو واهلو مې هغه د مورى له مخې تېر کړ، له شا نه چا زما نوم په پوس پوسي یاداوه:

داوده!، داوده! او داوده!...

د باندار ناست کسان چې تر اوسه یې په غتو- غتو سترګو او وازه خوله غوږ غوږ وه په ښورېدو سوه ، یو یو به لا د باد ربزه مېوو په رالوېدوسره د مخ ښه والوته ، جتکه به یې وخوړله او ورو به یې له سترګو له کونجو، بغلو او شا ته وکتل او د پښو د سترېا په پلمه به لږ نور را مخته سو.



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

کپه نظر په دوو ګوتو ناست ځنګونونه یې پورته درولي وه او د اوږد کمیس لمن یې پر راکش کړې وه او لاسونه یې پر زنګونونو را څر خولي وه، توره غټه لنګوټه یې تړلې وه چوپ او بې حرکته ناست وو او غوږ یې نیولی وو.

داود زیاته کړه: ویښتان مې پر بدن جګ- جګ ودرېدله، له هره باغه چې تېرېدم په پوس پوسي او خندا یې وویل:

چش - چش داوده...

لږ چې نور ولاړم بیا د یوه وري بع بع سوه آس ودرېد ،وهلو ګټه نه کوله، هغه همداسي شا ته زوروونه واهه او پر شا تی ، زه له آسه تا سوم پر پټو مې د هغه سترګي او غوږونه وترله له کیزې مې ونیوی او د موری‌له مخي مې تیر کی او په چټکو چټکو ګامو له باغو نه ووتم د آس سترګي مې ور خلاصي کړې ، پر سپور سوم او هغه هم په ځغاسته سو.

بوچ کریم وویل : هغه بله جومه شپه په باندار کې شوږ سلیم مخ اندوالانو ته کی اوویې ویل هر چا که همدا اوس چې نیمه شپه وه ولاړی او میخ تویله یې د مومن خان په قبر وټکوله زه سبا دې تولو اندیوالانو ته تر مړیدو پوري د اجي( حاجی) احدد پالودې مېله ورکومه!

ژیر ولي ولاړسو او ویل یې زه ځم زیاته بزاتره!

بیا یې له باغ له مینځه یوه میخ تویله راویستله پټو یې کش او له باغه ووت، د مومن خان غونډی نژدې ده، خو ژیر ولي بیا له شپې را نغلی سهار مو دوه تنه واستول چې ورشي حال مالوم کې، هغو ولیدله چې ژړ ولي میخ تویله پر خپله لمن ټک واهلي وه او د ولاړیدو په وخت کې یې زهره چودلې وه او مړ پروت وو.

چوک بصیر ،پک زمري او چټک سیدو په خندا سول او له خندا یې ځانونه مړه کړل.
محمد ي هغو ته وکتل او ویې ویل دیر مه خاندئ که ربښتیا نامیان یاست بیا راځئ یو شرط وتړو:

بیا یې د رانجو کڅونه او سلایي پر کمبله واچوله او ورسره یې وویل:



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

که هر یوه د غره په شامی( پخوا به يې په هديره کي دقبرو په ځای يوه لويه زير خانه جوره کړه او هلته به يې مړي ځنګ تر ځنګ  پريستله  چې دا زير خانه به ډکه سوه نو د زير خانې دروازه به يې وربنده کړه) د ټولو مړو سترګې توري کړې هغه نامي دی.

يو ګړی چوپه چوپتيا سوه او ټوله په سوچونوکې ډوب سوه، چا مځکې ته کتله، چاپه ګوتو لوبې کولې چا لا خپل څټ ګروئ...

محمدي زياته کړه:

آوه  نو زور غواړي زياته! د مړو د سترګو تورول د بنامار زړه غواړي، هر چا که دا کار وکی زه هغه ته خپله خور ورکوم او که يې ونه کی خپله خور به را کوي!

هيچا څه و نه ويل، سرونه ځړيدل او سترګې په مځکې ګنډل سوي وې، مشکل کار وو او درو‌ند شرط، د ورځې چا جورت نه سواي کولای شامی  ته يوازي ننوزي دا خو  لا نيمه شپه وه....

چا سر نه خلاصوه او سرونه کښته ځړيده .

محمدي بيا دا  وراندېز تکرار کی هر چا که دا کار وکی زه هغه ته خپله خور ورکوم او که يې ونه کی خپله خور به را کوي! او زياته يې کړه :لکه چې کوم نامي نسته؟!

کپه سر راپورته کی او محمدي ته وويل: ولي کندهار بې ناميانو دئ زويه زياته بزاتره ، زه ځم را که هغه د مور د... سلايي دي،

له ځايه ولاړ سوخپل پټو يې وڅنډی هغه يې له يوي څنډي ونيوی او کش يې کی او چې د پټو څنډه يې تر اوږې ورسيدله نو کوړ- کوړ يو بغله رهي سو.

محمدي خپل ورور ستار ته سترګه ټينګه کړه او  هغه هم د کپه په ډاډ ولاړ سو.

کپه نظرد باغونو په تنګو او کړو وړو کوڅو کې د شامی خواته رهي سو د لنډو لارو پسې ګرځېدی د باغ له موری نه لکه مار  وتی او له نخرو نه لکه غرڅه  اوښتی له کوشنۍویالو نه غورځيدی او له غټو ويالونه د لرګونه په جوړ سوو پلونو او تيرونو تېرېدی او له يوه نه بل باغ ته لکه تارو الوتی . سپوږمی د اوريځو شا ته پوټه وه ، نری



www.tanzona.com
Copyright: www.tanzona.com

باد چلېدی له کنډوالو نه د بومانو آوازونه  په باغو کې ازانګې کولې، او د چونګښو قور - قور نارې اوریدل کېدې،  له غتې هدیرې نه د تېریدو په مهال یې  یوه یوه ګېړکه لېدله چې ځغلي ،  دده په لیدو به سنجابونه له یوه ښاخه بل ته په ګغ - ګغ سره ټوپونه کړله. کېله سیده رهي وو دېخوا هاخوا یې نه کتله او هله- هله ځان یې د شامی خولې ته  ورسوی

سا یې ونیوله، یوه پټه زینه  لاندې ورتا سو کرار یې د شامی کوشنی دروازه پورې واهله د دروازې د خلاصیدو د زګیروي ږغ او غونجا لکه له خوبه چې راکښینستلې وي پورته سوه تا به ویل چې مړو ته څه وایي او خبر ورکوي.

کېله د سدری له جېبه د اورلګیت کوتی راویستله یوه خاشه یې ولګوله د هغه په رڼا کې یې  دېخوا هاخوا وکتله بله او بله خاشه یې ولګوله کښېناست په مځکه یې لاس وټپوی او یو شی یې په لاس ورغی بله خاشه یې ولګوله او شیتان څراغ یې ولګاوه، هغه یې په لاس کې ونیوی او د زیر خانې و اخیر ته ولاړی، هلته یې د یوه مړي څنګ ته ګونډې ووهلې.

هلته ډیر بد تیز او توند بوی وو، د زیر خانې د زیم، د مړو، د کاپورو او مړو مړو بوی انسان خپه کاوه ، کېله پزه په شمله وتړله او د لومړي مړي کفن یې خلاص کی سترګې یې ورکش او په سلایي  ورتوري کړې د هغه کفن یې بیرته وتړی او یو بغل ته یې کی بیا دوېم ته کښېناست همداسي دریم او څلورم ته  په دې وخت کې اووم مړی وښوریدی سر یې راپورته کی او په زګیروي یې کېله ته وویل:

ژر کوه زما سترګې را توري که!

کېله بېله دې چې مخ ورواړوي او  هغه ته وګوري هغه یې یوه ټینګه چپلاخه وواهه او ورته یې وویل:

وده چې وار دې راسي!

هغه مړی هم توپ کړل او له شامی ووت او د هغه په غورځېدو سره شیتان څراغ هم مړ سو. کېله بیا خاشه ولګوله او شیتان څراغ یې ولګاوه او د نورو مړو سترګې یې په وار سره ورتوري کړې. شیتان چراغ یې پوه کړ او له شامی نه راووت او بیرته د باغو په

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

خوا رهي سو او چې باغ ته ورسيدی محمدي د خپل خور تار او ستن مخي ته ورته کښيښوله.

کپه ورته وويل:

ستا خور په دين او دنيا زما خور ده، پر ځای يې موږ ته د نن سهار د پيروي مېله راکه!

نو هغه وو محمدي خپل ورور ستار ته اشاره وکړه او هغه چې د مخ يوه خوا يې سره وه د پيروي پسې له باغه ووت.

***

کپه لکه تل غتې لنګوټه چي پر لمر سوځلي مخ يې سايه اچولي وه په سر، خردوم تر ملا، پر آس سپور او دوه پاپيانو يې د آس پسي ځغستله د مهر لګولو په خاطر د کومنداني خو ا ته رهي وو، خلکو په پوټه يو بل ته ښودی:

هغه دئ کپه نظر!

کوم يو؟

هغه پر آس سپور يادوم.

د ولايت و مخي ته ډير خلک را ټول وه او هره خوا ته سپاهيان د خپلو پنځه ټکه توپکانو سره ولاړ او د ديوالو له سره يې د ولايت دننه نبنان نيولی وو ،پر بامو هم سپاهيان پراته او د توپک ميلونه يې د ولايت خوا ته نيولي وه، کپه له ځانه سره وويل:

بيا څه خبره ده؟

د کپه په رانژدې کېدو سره خلک ليري شوله او لاره يې ورکړه، يو سپاهي د کپه خوا ته ورغی هغه ته يې عسکري سلام وکی او په ادب يې ورته وويل:

صيب کومندان صيب دي غواړي!

Copyright: www.tanzona.com

کپه په برېتو کې وخندله او له آسه تا سو، د آس کیزه یې و  سپاهي ته    ورکړه او د کومندان خوا ته چې د ډېرو نورو صاحبمنصبانو او دروبهرنیو توریستانو په مینځ کې په چورت کې  ولاړ وو  ورنژدې سو ، د توریستانو په مینځ کې یوه ښځه هم وه کپه د هغې په لیدولړ تر شا سو او سترګې یې کښته واچولې او ویې ویل:

سلام صیب!

کومندان له روغبړ وروسته ورته وویل:

د دې توریستانو یو پرانګ چې له هلمند نه یې راوستلی واو غوښتل یې هغه جرمني ته یوسي، خو دلته له قفسه وتښتېد او ولایت  انګړته ننوت، د دې لپاره چې هغه خلک و نه داړي مور غواړو  هغه وولو. خو دا توریستان زاری کوي چې هغه مه وژنی هغه ژوندی ونیسئ، نو ونیسه نامي که دې ورته ونیوی!

کپه بېله دې چې څه ووايي د ولایت له دیواله ورپورته سو او د ولایت انګړ ته دننه وروغورځید،دباندي درختو په ښاخو ناست او ځړېدلي هلکانو،یو د بل په اوږو سپاره او په لوړو دېوالو او بامو ناستو خلکو، پر سړک ، پر لاریو  او سرویسو اوپر لیریو ولاړو سیل بینو، سا نیولې وه چې څه کیږي.

د آرګ د سړک په دواړو غاړو ناستو پلورونکوناري وې:

د شور اندام پټاتي درواخلی، تازه تربوچه، نیم ګزی درواخلی زړه په یخ کی. د بابا حلوا وخوری، یخي - یخي شولمبي د زړه زنګ مو لیري کوي، تور بانجن...ړغونه کرار - کرار لړېدل  او خلک د ولایت خوا ته رش راوړی ان د چارسو، ښکاپور ، هرات او کابل بازارونه خلک په چټک ګامو د ولایت خوا ته را مات او هلته به په سا نیولي توګه غوړ - غوړ سوه.

کپه د ولایت په غولي کې سترګې دېخوا هاخوا  په پام  لغړولې، موچني یې د دیوال یو کونج ته کښېښولې، سدری یې ویستله هغه یې کرار کت کړه او د موچنو پر سر یې کښیښوله  همداسي یې خردوم  له ملا نه خلاص کی او د سدری لاندي یې کښېښوی، او په کرار یې لستوني راونغښتله، پټو یې په لاسو کې ونیوی او څو ګامه مخي ته ولاړ، بیا یې



www.tanzona.com
Copyright: www.tanzona.com

سترګې ولغړولې خو پړانګ یې تر سترګو نه سو نود ډنډ تر څنګ درختو خوا ته کړوپ - کړوپ او کرار کرار ورغی، یو ناڅاپه یې پام سو چې پړانګ د توت په ونه کې و برید ته چمتو ولاړ دئ. ده هم بې له ځنده خپل پټو په لاس کې ورته وښوروی او د سترګو په رپ کې پړانګ په ده باندې توپ کړ او دواړه لکه دوه پهلوانان سره غیز په غیز سول اوحملې یې سوې ، له مځکې خاورې او دوړې هوا ته پورته سوې

هغه چا چې دوې یې لېدله سا یې په سینه کې بنده کړې وه او په رډو - رډو سترګو ګوته په خوله یې ورته کتله، او یوه - یوه به لاندې خلکو ته د لوبې ګزارش ورکاوه:

کپه پورته دئ . هغه دئ، هغه دئ، پړانګ پورته سو. آ آ ...

خلکو د انسان او پړانګ پهلوانې په نکلو کې اورېدلې وه خو اوس یې په خپلو سترګو لېدله نو سا یې په کوګل کې ایساره کړې وه او پهلوانې یې څارله. یو وار به یو کښته سو بیا به بل ، د پړانګ غوړمبی وو ځینو له وېرې سترګې پوټې کړې وې او د چا چا لا شونډان ښورېده

.پړانګ به چې پورته سو نو وبه غوړمبید او کپه به چې پورته سو د زویه زویه نارې به سوې

. د پالوانې میدان وو یوه هم نه غوښتله مات سي ، د هر یوه د ماتېدو سره هغه له مینځه تلی، د خاورو خاکه کېدی ،نو ځکه زور وهل، اوښتل رااوښتل، غوړمبی ، نارې او دوړې وې...

لس – دولس دقیقې وسوې چې کپه لاندې او پړانګ یې پر سرپروت او غوړمبی یې وو خوله یې په وینو لړلې او مونګاچې یې اچولې، دوه – درو سپین ږیرې پټو سترګو ته ونیوی او له بامه تا شول، توریستانو چې سا یې په کوګل کې بنده کړې وه په سترګو کې یې اوښکې لغړېدې نو کومندان ته یې وویل:

تاسو کولای سئ پر پړانګ ټکان وکئ!

کومندان هم امر وکړ چې ټول سپاهیان دې توپکان ډک او نښان دې ونیسي، سپاهیانو هم توپکان ډک او له هرې خوا یې نښان ونیوی. خو پهلوانانو ښه ټینګ سره نیولی‌وه.

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

خلک نور نامینده سوه خو یو ګړی وروسته د کپه د زویه زویه ږغ پورته سو او پر پرانګ راواوښت، د خلکو په سترګو کې له خوشالی نه اوښکې ولغړیدې او د ځینو لا بې اختیاره اوښکې توی سوې. دواړو زوروونه واهله کپه همداسې پر پرانګ پروت وو او د هغه پښې او لاسونه یې ټینګ نیولي وه، او کرار کرار د پرانګ غوړمبی او زورواهنه سوست او ارام سول ، پرانګ اوږد اوږد وغزېد ، کپه له پرانګه پورته سو ، داسې بریښیده چې پرانګ تسلیم سوی وي ،پرانګ د کپه له پښې نه خپله داړه ویستله او سر یې کښته وځراوه او لکه اوزګړی پورته سو، ځان یې وښندی او د کپه مخې ته په ادب ودرید، د کپه په شونډو موسکا خپره سوه، خپل ځیري ځیري پتو یې د پرانګ په غاړه کې وروږاچوی اود لونګی نه یې یوه ټوټه پرې اوخپله پښه یې پر وتړله ، پرانګ یې په شا وټکاوه او ورته یې وویل:

درځه زویه زیاته به زیاتره!

پرانګ د کپه اغیزناکو سترګو ته په مړو سترګو وکتل او ورسره رهي سو، خلکو په هیښتیا سره یو بل ته کتل، یو وار بیا د واه واه د نامې زو ناري او د خوشالی چیغې پورته سوې او دې چیغو تولبه فضا ډکه کړه، ځینو لا ژړل او له سترګو یې اوښکي بهېدي او چا چا لا خپل پټوان پورته پورته غورځوله.

کومندان اکبر خان په کالو کې نه ځایده، ،د ولایت دروازه خلاصه سوه، کپه د پرانګ په غاړه کې لکه دقربالې پسه پټو اچولي او ارام -ارام او کوږ -کوږ د باندې را ووت. سپاهیانو خلک پوري وهل او لار یې ورته خلاصوله، کپه پرانګ د هغه موټر شا ته چې قفس په کښې پروت وو پورته کړ او خپل قفس ته یې دننه کړ او د قفس دروازه یې په هغه زنځیر چې هلته پروت و وتړله، پرانګ د تعظیم لپاره سر په مځکه ورته کېښودی، کپه له موټر له شا نه تا سو دده له تا کېدو سره سم یو وار بیا د خوښی ناري پورته سوې:

واه واه د نامي زو، د مور شیدې...

او ورسره د شور اندام پټاتې درواخلی، تازه تربوچه، نیم ګزی درواخلی زړه په یخ کی. د بابا حلوا وخوری، یخي یخي شولمبې ...ږغونه بیرته پورته سول خو ځینې خلک لا ولاړ وه او د ولایت خوا ته یې په حیرانی سره کتله.



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

توريستانو له ډيري خوشالى خندله، اكبر خان كومندان دوې لونګى او يو پټو كپه ته وركړه، كپه په خپل ډول لونګى وتړله، يو سپاهي د هغه سدرى، خردوم او موچني ورته راوړې كپه سدرى واغوستل، موچني يې په پښو او خردوم يې تر ملا وتړى

يو توريست له جيبه د لوټو يوه بنچه راويستله او كپه ته يې ونيوله، كپه بيله دې چې و هغه ښځې توريستي ته چې له خوشالى يې غوښتل كپه په غيز كې ونيسي وګوري،هغه توريست ته وويل:

دا د دي سيا سرې پوړنى دئ .

. كپه د خپل آس خوا ته رهي او په سپور سو

اكبر خان كومندان ورباندې ږغ كړل:

وايه څه غواړې نامي؟!!

كپه د هغه خوا ته مخ ورواړوى دغوړ شا يې وګروله او ويې ويل:

دا ازيري( حاضري) مازيري دي دركړئوه صيب!

او د ښكارپور دروازې خوا ته يې آس چو كړ

د توريستانو سترګو تر هغه چې دى تر سترګو نيامېده هغه بدرګه كاوه.

فوكلورى نكل

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# هيڅ

چې وو نه وو يو باچاه وو،ناست په دوکانچه وو ،خوراک يې آلوچه وو . او ډير ساده او خوشباوره سړی وو او هغه بيايو ډيربد ستر ګی کازي درلود .

يوه ورځ کازي وارېده چې د باچا د باغوان ماينه ډېره ښايسته ده نو د دې لپاره چې هغه ووينې ،په چم چم يې باچا ته وويله:

دا دونه وخت کېږی باغوان ستا ډوډی خوري او ته يې تر اوسه يوه وار هم نه يې مېلمه کړی!
باچا ويل :

هين.

باچا، باغوان را وغوښت او د هغه نه يې ګيله وکړه:

ګوره ناځوانه! تا يو وار هم زه نه يم مېلمه کړی ته بايد ما او کازي مېلمانه کې!

باغوان ډير خپه کورته راغئ ماينې يې ترې وپوښتل :

ته ولي داسې خپه يې؟ څه خبره ده ؟

باغوان ورته وويل:

باچا وايي : ما او کازي ميلمانه که !

هغې ورته وويل:

سهي ده، دا خو دونه خبره نه ده . ورسه ورته ووايه: خداي مو راولی اود جمعې په غرمه مې ميلمانه ياست .

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

باغوان هم و باچا ته ورغی او هغه ته یې وویل :خدا ي مو راوله صایبه !د جمعي په ورځ زما مېلمانه یاست .

دا چې د دوبي تودې ورځې وې او د لمر وړانګې لکه غشي لګېدې د باغوان مایني خپله خونه ښه نرۍ کاګل کړه او خپل مېړه ته یې وو یل:

مېلمانه د جمعي په ورځ په باغوکې ښه وګرځوه او چې ښه سترې ستومانه او وږي سول بیا یې کور ته راوله .او هغه همداسي

وکړه .

د باغوان مایني ښه د تناره تودې بریښتې ډوډۍ او د کونجۍ یخې اوبه ورته کښېښوولې ، باچا چې ډېر وږی او ستړی سوی و دې ډوډۍ خورا خوند ورکړ او کازي هم په خپل مراد ورسېداود باغوان ماینه یې ولیده ، د هغې تورو سترګو، نرۍ غاړې .سرو باړخوګانو د کازي زړه بوک د هغه له کوګله وېسته نوریې خوب اوآرام له سترګو ولاړ اود باغون د ورکېدو په سوچونو کې سو، او ډول ډول نخښې یې ایستلې.

کازي باچا ته و رغی او د هغه په غوږ کې یې وویل :

دا باغوان ډېر پوه سړی دئ ولي هغه نه استوې چې هغه د غره د باغ زمریان مړه کي؟ اوولي د هغه باغ نه د خوار اولس لپاره مېله ځای نه جوړ وي؟ که زما په خوله کوې دا کار بېله د باغوان بل څوک نه سي کولای!

باچا ویل :

-هین

نو یې باغوان را وغوښت او هغه ته یې وویل:

ته باید د غره باغ د زمریانو له منګولو خلاص کې! زه د هغه باغ نه مېله ځای جوړوم چې اولس خوشاله سي!

باغوان ډېر خپه کورته راغی ماینې یې ترې پوښتنه وکړه :



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

ته ولي بيا داسي خپه يې؟ څه خبره ده ؟ !

باغوان ورته وويل:

باچا  هغه د غره باغ چې دا لس کاله زمريانو نيولی دئ او ده په خپلو تولو سپاهيانو هغه مړه نه کړه، ما ته وايي هغه مړه او باغ ترې خلاص که !

ماينې  يې ورته وويل :

که باچا ته، نه  ووايي بيا دي هم غرغره کوي. ورسه باچا ته ووايه : سهيي ده ستا يې فرمان زما يې سر ،ځنګه به نه ځم او د هغه نه يو مياشت مهلت ، لس کڅوني تنکي، زر او غجری واخله!

څه سر دي پر له ګرځوم .

باغوان هم باچا ته ورغی او د هغه نه يې دا تنکي،زر او غجری وغوښتلي .

باچا هم خزانه دار ته امر وکړ او هغه دا تولي تنکي ،زر او غجری ورکړې.

ماينې يې په پښت باندی سر تر پايه د وسپني کالي ورجوړ کړه او ده ته يې وويل :

چې هورې باغ ته نژدې سوې  د وسپني کالي واغونده .په يو لاس کې توره اوپه بل لاس کې د پسه لم ونيسه او يوه ناره نارې که !

چې زمری دربانډی راغی  هغه  اول پر تا بريد کوی  او دا چې تا د وسپني کالي اغوستي دي نو بيا  پر لم بريدکوي، پر توره يې وهه او سر يې ترې پرې که!  همداسي نور زمريان هم مړه که! او بيا يې غوړونه  پرې اود شپې ناوخته کور ته راسه! چې څوک دي ونه ويني . او حال پلن واچاوه .

څه سردي پر له ګرځوم ،چې باغوان باغ ته نژدې سو د وسپني کالي يې واغوستل په يو لاس کې يې لم او په بل لاس کې يې توره ونيوله او ناره يې کړه :

و يه قربان.....

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

زمري چې د باغوان ږغ واورېد، د ده خواته په غرمبارې او څغاسته راغی دده و سر ته يې حمله کړه خو منګولې يې پر وښوېدې، نو بيا يې لم ته خوله واچوله . باغوان توره ورته کش کړه د هغه سر يې پرې کې بيا يو بل زمري هم ورباندی بريد وکی، هغه بل يې هم همداسي مړاو غوړونه يې ترې پرې کړه او بيا باغ ته ننوت هلته يې دزمريانو دوه چوچيان وليده هغه يې هم په خورجين کې واچوله او د شپې ناوخته په پټه کور ته ولاړ.

او دا پاته مهلت يې په کور کې خوبونه کول . کازي بيا هرماښام ددوی تر کوره راتلی او ډول ډول ميوې ، داني او سوغاتونه به يې د باغوان ماينې ته راوړل. او ناري به يې کړه:

ورينداري ښنګه يې؟

او د باغوان د راتګ پوښتنې يې کولې او ويل به يې:

ورينداري کوم شی خو دي په کار نه دئ!

د باغوان ماينې چې د کازي په کاره نيت له اوله پوه وه د هغه نه يې ډول ډول خواستونه کول او د کور خرڅ يې په هغه پوره کوئ.

چې د باغوان وخت پوره سو هغه په څيري څيري کالو، به دوړو لړلی، ګوډ ګوډ د باچا د مانی خوا ته رهي سو. او په ښار کې آوازه سوه چې باغوان زمريان وژلي دي او راغی .

باغوان هم د زمريانو غوړونه او دوه چوچيان د باچا و مخې ته کښېښوول. باچا ډير خوشاله سواو دکازي پسې يې يو سړی واستوئ؛ چې هغه راغئ باچا هغه ته په خوشالی وويل :

رښتيا چې ته پوه سړی يې !



www.tanzona.com
Copyright: www.tanzona.com

کازي په زړه کې ډېر خپه او خواشینی و او چرت یې وهه چې دا څه چم وشو او د بلې پلمې او نخښې په لټه کې سو. لنډه دا چې بیاد باچا پر غوږ ور پرېوت او هغه ته یې وویل :

که زما منې! دا باغوان ډېر هوښیاردئ، هغه واستوه چې د تور غره څلوېښت غله چې د خلکو مالونه غلا کوي او خلک وژني او ټوله ملت زموږ له امنیت نه ناراضه دي ، مړه کي!

باچا ویل :

هین

او باغوان ته یې امر وکی: ورسه د تور غره څلوېښت غله مړه که !

باغوان ډېر خپه کورته راغي ماینې یې بیا ترې وپوښتل :

ته ولې بیا داسې خپه یې؟ څه خبره ده !

باغوان ورته وویل:

باچا چې په ټول زوریې د تور غره غله ورک نه کړه ما سپین ږیرې ته چې په خدمت کې یې راست یم، وایي: ورسه هغه مړه که !

ماینې یې ورته وویل :

بله چاره نه لرې، ورسه ورته وو وایه:

زه ستا امر په سر او سترګو منم ،ما ته یوه میاشت مهلت او پنځلس کڅوني تنکې، زر وغجرې راکه!

لنډه دا چې، ده باچا ته را ټوله وویل.

باچا هم خزانه دار ته امر وکړ او هغه دا ټولي تنکې ورکړې.

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

د باغوان ماينې ځلوينښت ټکياني(روغانی) چې په زهرو لړلي وې او يوه بلمنګه ټکی بې زهرو ور پخه کړه او ده ته يې وويل:

چې کله غره ته نژدې سوې يوه ناره نارې که. چې کله غله در باندی راغله ،تا تلاشي کوي ته ورته ووايه:

دا ټکياني مې لور ته چې له غره هاخوا اوسيږی ورم ،مور يې ورته پخکړی دي.

هغو ی چې دا ټکياني وخوړ ي مړه به سي د هغو غوړ.ونه پرې که او د شپې ناوخته چې څوک دي ونه ويني کور ته راسه!

څه سر دی پر له ګرځوم باغوان چې غره ته ورسېد نارې يې کړه:

يه قربان....

غله پر راغلل دی يې تلاشی کړ او ټکياني يې سره وويشلي او بل منګه ټکی يې ده ته ورکړه هغوی چې ټکياني وخوړې مړه سول او ده د هغو غوږ.ونه پرې او په خورجين کې يې واچوله او ناوخته کور ته رهي سو.

يو مياشت يې حال پلن واچوی او په کور کې يې خوبونه کول .

او کازي بيا هره ماښام ددوی دروازه ورټکوله او ډول ډول ميوې ، داني او سوغاتونه يې ورته راوړل او نارې به يې کړل:

وريندارې ښنګه يې؟

وريندارې کوم شی خو دي په کار نه دئ؟

او د باغوان ماينې به د حيا نه په ډکه خندا ځواب ورکړی:

يا،

او دکازي به د باغوان د راتګ پوښتنې کولې.

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

چې د باغوان مهلت پوره سو هغه په خیري خیري کالو به دوړو لړلی ګوډ ګوډ هله هله د باچا د ماڼی خوا ته رهي سو.په ښار کې بیا آوازه سوه چې باغوان د تور غره غله مړه کړی دي

باغوان هم د غلوغوړونه د باچا و مخې ته کېښودل ، باچا ډیر خوشاله سواو دکازي پسې یې رویبار واستوی. هغه چې را غی هغه ته یې په خوشالی وویل :

رښتیا چې ته پوه سړی یې !

کازي په زړه کې بیا ډیر خواشینی سواو چرت یې واهه چې دا بیا څه چم وسو او د بلي پلمي او نخښې په لټه کې سو.

لنډه دا چې کازي داسي نخښه جوړه کړه چې هیڅ خو هیڅ شی دئ او د هیڅ په نامه خو حیوان هم نسته، دی به د هیڅ پسې واستوم او هلته به یې شرمښان وخوری او که یې هیڅ رانه وستی بیا به یې هم په باچا مرګم چې د هغه امر یې پر ځای کړی نه دئ.

کازي بیا د باچا پر غوړو ور پریوت او هغه ته یې وویل:

که زما مني دا باغوان ډیر هوښیار سړی دئ هغه واستوه تاته د خوش بختۍ او سعادت حیوان چې هیڅ نومیږي راولي! چې هیڅ په باچاهي کې نه و ي هغه باچاهي خوند نه کوي، بې هیڅه ژوند نه دئ.

ته یې ولي ونه لرې !

ته د چا کم یې !

دا مظلوم خلک د چا کم دي چې په شاهي باغ کي هیڅ نه لري.

او پرینګ باچا ته په ژړا سو

باچا ویل :

-هین

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

او باغوان ته يې امر وکړ: چې ورسه ما ته هيڅ راوله !

باغوان بيا ډير خپه کورته راغی ماينې يې بيا ترې وپوښتل :

ته ولې بيا داسې خپه يې؟

بيا څه خبره ده !

باغوان ورته وويل:

باچا وايي ورسه ما ته هيڅ راوله.

ماينې يې ورته وويل :

بله چاره نه لرې، ورسه ورته ووايه:

زه ستا امر په سر او سترګو منم ما ته يو مياشت مهلت او شل کڅوڼې تنګې، زر اوغجرې راکه .

ده باچا ته دا ټوله وويل .

باچا هم خزانه دار ته امر وکی او هغه دا ټولې تنګې ورکړې.

د باغوان ماينې و باغوان ته وويل:

سهار وختې څه په دښتو او غرو کې د الوتونکو بڼکې او د حيواناتو وړی، دپوستونو ټوټې را ټولوه او د شپې ناوخته کور ته راځه .

څه سر دې پر له ګرځوم د باغوان هره و رځ همدا کار وو .

او کازې بيا هره ماښام ددوی دروازه ورټکوله او ډول ډول ميوې او دانې يې ورته راوړل او د باغوان د راتګ پوښتنې يې کولې او ويل به يې:

وريندارې! ښنګه يې؟ د شپې خو نه وېرېږی؟کوم شی خو دې په کار نه دئ؟

د باغوان ماينې د هغه نه د ډول ډول مرغان الوتونکې ښوښتل او هغه ته يې ويل:

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

سینه مې درد کوي یوه دانه طاووس غواړم . او بل شپه یې و رته ویل: یو کولنګي چرګ غواړم او بله شپه طوطي... ترې غوښت

باغوان د ماینې په سلا باغوان دوه پرله پسې خونې جوړې کړې او د دواړو خونو تر مینځ یې یو ځاه وکیندی او هغه یې یوه ورځ له مهلت نه مخکې د سرپښو ډک کړ او په دویمه خونه کې یې هغه تول بنګي ، وبښتان ،و ړیاو د پوستونو توتې اوري کړې

او باغوان ته یې وویل: ته به د شپې په دو لسو بجو دیوې شلاخې او تسمې سره کور ته راشې ما به هیڅ تیار کړی وي د هغه په غاړه کې به دا تسمه واچوې او سبا به یې په وهلو وهلو د باچا دربار ته بوځې.

ماښام چې کازي راغی او پوښتنې - اوښتنې یې پیل او نارې یې کړې:

وریندارې! څنګه یې؟ کوم شی خو دې په کار نه دئ؟

د شپې خو نه ویرېږې؟

امنیت ډیر خراب دئ په ځان پام کوه!

او رښتیا د باغوان کوم درک- مرک نه دئ مالوم سوی ؟!

د باغوان ماینې د حیا نه په ډکه خندا ورته ځواب ورکی:

یا د هغه دې خاورې په سر سی هغه کله هیڅ پیدا کولای سې.

کازي ورته وویل:

که پیدا یې نه کې بیا هم باچا هغه وژني سر خلاص که!

د باغوان ماینې کرار دروازه خلاصه او کازي ته یې وویل:

پرون شپه ډیره وویرېدمه!

کازي د منګي غوندې په غټه خیټه یو بغله د دروازی نه ور تیر سو.او د باغوان ماینې ته یې وویل:

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

زه خپله پرتا پهره کوم او د کوتې په پای کې کښېناست .

د دوړی خوړلو وروسته یې ګرمي وسوه او کرار کرار یې ټول کالي ویستل او لوچ لغړ پریوت او د باغوان ماینې ته یې ویل:

راځه چې ویده سو!

هغې ورته ویل:

څه تلوار دي دی شپه خو لا اوږده ده.

دا مهال دروازه وټکېده او د باغوان ږغ سو:

هو ښځې! چیری یې؟

هیڅ مي راوستی دئ.

کازي په وارختایي وویل: زه څه وکم؟

د باغوان ماینې ورته وویل:

ته هغه بلي خونې ته ولاړ سه!

کازي بلي خونې ته وځغاستل او هلته د سرېښو په څاه کې ولوېد اود باغوان ماینې د سرېښو یوډک سطل پر سر ورتوی کړی، بیا یې هغه راپورته کړی او هغه ته یې و ویل:

ته په هغه خونه کې لغړه چې وچ سې اوزه به باغوان اخته کم .

باغوان ناري کړه:

دا هیڅ چیری ودرم؟

ماینې یې ورته وویل:

هغه خونې ته یې بوځه!



www.tanzona.com Copyright: www.tanzona.com

باغوان هغه خونې ته ورغی او د کازي په غاړه کې یې تسمه ورواچوله

د باغوان ماینه راغله او باغوان ته یې وویل: کومه دئ هیڅ ؟

باغوان کازي به شا وتکوې او ورته یې وویل:

دغه دئ .

هغې چې د کازي پر شا لاس تیر کړ، ناری یې کړه:

دا څومره لوند خیشت دئ!

اور یې ورته بل کړاو او د بدن په لوخو ځایو یې پاته بنکي ورومښلول.

سهار یې په وهلو وهلو د باچا د مانی خواته هله هله رهي کی، په ښار کې آوازه خپره سوه چې باغوان هیڅ راوستی دئ.

باچا د هیڅ په لېدو ډیر خوشاله سو او دکازي پسي یې سپاهیان ولیږل چې هغه ژر خبر کړ ي ځکه هغه ډیر ارمان درلود چې هیڅ ووینې .خو کازي نه وو

او هره ورځ جوپه جوپه خلک د هیڅ دیدن ته راتلل چې دا د سعادت حیوان په خپلو سترګو ووینې او د دوږخ اور پر حرام سې.

باغوان او ماینه یې د دې باچاهی نه کډه وکړه او ولاړه.

کیسیٍ ولاړه په کولک ننوتله

زه ولاړم په تلتک ننوتم

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# توره واوره

د کوټې ور ورو ورو په ګوتو وټکېده او بیا ورو پوري وهل سو، د وره دزګیروي سره د یوې سپین سرې سر کوټې ته ددننه سو او له کته بینو آینکو د ښېښو نه یې د کټ خوا ته وکتله او په خوشالۍ یې وویل :

احمدوف! ستاسو په هیواد کې رژیم بدل سو او مشر مو ویل مورډ خپلو بندیانو پوښتنه او بازخواست کوو او هغوی راغواړو.

د دې خبرې سره سم احمدوف اریان دریان ودرېد په بد ګمانو سترګو یې پورته وکتل او ژړغونی سو ، دیوې ترخي موسکا ځپه یې پر شونډو خپره سوه. په بدن یې بریښنا ننوتله او بند بند یې ور وریږدوی، د زړه د رباب تارونه یې وترنګېده او له ځانه سره یې غوم غوم وو. په کوټه کې په ګرځېدو راګرځېدوشو ، مځکې ځای نه ورکاوه، نه پوهېده وخاندي که وژاړي، نابېره یې په زوره زوره وژړل خو ژر په خندا سو او له سترګو یې اوښکې توی سوې.

کښېناست ګوتي یې سره کښېکښلي زړه یې سخت درزېدی او دچورت په سمندر کې لاهو وو په سترګو کې یې د خوښی اوښکې خوتېدې لکه ګل چې نوی وغوړېږي تازه سو، مخ یې سورخی پیدا کړه .

مور او د هغې پستي او خوږې خبرې یې ورپه یاد سوې.

هغه یې ځو واري په خوب کې لېدلي وه هغې ورته ویل:

ولي نه راځې؟

او ده ورته ویل :

دا دئ راغلم.



www.tanzona.com

کوشنی خور او  ورور يې  په ياد سول

هغه ۲۵ مني او ژمي دلته په نهيلۍ تير کړي وو ا ن خندا او ژړا ترې هيره سوې وه.

نور يې د سترګو چينې وچي سوي وې  دا لومړی ځل وو  چي بيا يې په سترګو کې اوښکې او په شونډو  کې يې موسکا  را پيدا سوه خو دا حالت يې تر ډېره پاته نه سو ژربيا د کونځو  چپه  يې پر تندی خپره سوه او له ځانه سره يې ورو وويل :

مور به مي  اوس مړه يا سپين سری وي ، ورور او خور به مي اوس خدای چيري وي ؟؟

د هغه  په چورت کې هغوی اوس هم واړه وه.

اوس به هغوی ما  ځنګه وپيژني؟!

په هکله يې  چرت  واهه او ژر يې  له ځان سره وويل:

زه به دا خپله خامکي غاړه له ځان سره يو سم او ورته و به وايم زه احمدوف يم ! احمدوف!

خپل پښو ته يې وکتل،  سترګې يې تنګي کړې او ژر له کوټې نه بهر ووت يو موټې واوره يې په بېړه د پښو پر دانو تينګه تينګه ومونبله او  هغه يې په سرو وينو ولړله بيا بيرته کوټې  ته ننوت يوه کوشنۍ هينداره يې چې هلته پرته وه  را واخيستله د لاس پر شا يې  پاکه او په هغه کې يې وکتل، د سپينې ږيرې په ليدو يې جتکه وخوړله او د ژبې لاندې يې ورو وويل: هغوی به ما وپيژني؟!

سر يې  بياکښته وځړاوه شونډې يې وريږدې  پر ځيره يې بيا د خواشينۍ چپه وغزېده اوله ځان سره يې وويل:

د هغو به اوس هير يمه! سترګې يې غتې سوې او ويې ويل:

د هغو نومونه به  ورته واخلم: ستار ، جانان د بابا زوی...

د کوڅې نوم د ماجد د ملا نوم، د اکا د زامنو نومونه، د کوڅې د دوکاندار نوم....

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

بیا یې ژر سر وځړاوه او له ځان سره یې وویل :

هغوی به تولہ مړه سوي وي ؟!

نن یکشنبه د رخصتی ورځ وه هغه خپل کالي پرېمنځلي وه د بخاری لپاره یې لرګي مات کړی وه بیا یې ځان ته سورکرم پوخ کړی وو خو اوس یې اشتیا بېخي تبنتېدلي وه تر ماښامه کوټي ته تی او راتی او چې سترې سو بیا پر چېرکت پريوت یوه سترګه یې خلاصه او بله یې بنده نیولي او په اندېښنو کي ډوب وو او د ډول ډول سوچونو سره لاس او ګریوان ..

نوره هوا تیاره سوی وه، الکین یې ولګاوه یو شېبه وروسته یې هغه بېرته پوه کړ او ځان یې په بړستن کي ونغښت لټ په لټ اوښت رااوښت، بیا پر مخي پرېوت او په زوره ز وره یې چیغي کړې، لکه مار چیچلی خوب نه ورتی او تاو تاو کېدی، بېرته کښیناست الکین یې ولګاوه خپله هغه زړه خامکي غاړه یې چې د راتګ په وخت کي اغوستي وه یووار بیا لاس تیر کړ او سر یې شا لوری ته کوږ کړ او په سوچونو کي ډوب شو. کری شپه یې په همدې سوچونو کې تېره کړه...

« روسانو د د وی کور ته ننوتل هر شی یې لوټ او مات کړل دده یې سترګي وتړلي او له ځان سره یې بوت د مور ساندې یې په غوږو کې تراوسه آزانګي کولي، بیا یې په الوتکه کي واچوی دنورو ړغونو او زګیرویو په منځ کې یو ږغ ورته آشنا ښکاره سو تر ننه یې هغه پیدا نه کړ چې هغه د چا ږغ وو بیا خو تنه په هوا کي دالوتکي نه لاندی تیل واهل سول او ورسره هغه اشنا ږغ هم تري تم سو. بیا یې د اتکړی او زولنو سره دي سپین زندان ته راوست. لس سپیان ،دلرګوکاډی او د سندوکونه وړل راوړل یې لوړي غونډی ته دنده سوه.

یو وار یې چې هغه وخت اجمل هم ژوند ی و، د تبنتې هڅه وکړه، خو لاره تري و رکه سوه ،په هره لور کي سپینه واوره وه، دوی بې هوښه سول او د همدې سپین سری زوی د سپو په مرسته دوی پیدا کړل او هغي ورته وویل :



Copyright: www.tanzona.com

www.tanzona.com

ښه دی چې لېوان نه دي در باندی راغلي.  نور نو ده دخپلې هېلې دروازه تړلې لېدله، او اجمل د ډېرو دانو نه مړ سو او دی  تکي تنها پاته  سو. اجمل  ده ته څو نښانې پرښودې چې  یې د هغه مور ته یوسي.

همدې سپین سرى کله نا کله یو نیمه د رادیو خبره ده ته کوله.

یوه ورځ  یې خپل خوب ورته  و وایه : چې د روس رهبران په یو  هوایي بېړی (کوزموس) کې سپاره وي او هغه پر مځکه را لوېږی  او توله اور اخلی .

او د ده نه یې  وپوښتل :

ته پوهېږې  داخه مانا لري ؟

خو ده هغه جاسوسه ګڼله او یوازې د نه په چم سره یې شونډې ورته بوڅې کړې ،خو اوس  یې باور راغلی وو چې هغه ښه  ښځه ده. »

د احمدوف په  جوله کې د خواشینی او درد نښې ښکارېدې خو په شونډو کې یې موسکا خپره  وه او منتظر د کوټې مخ ته ولاړ وو د ده په نظر وریځې په ګډا ګډا یوې خوا  بلې خواته  روانی وې  سارایي ا لوتونکې یې لیدلې  چې تر لېرو لېرو الوزي.

یوه دسکشه یې  له لاسه ایستلې  اود اجمل نښې یې په لاس کې تینګې نیولې  وې  ،  په سپینه واوره د کوټې مخ ته تی راتی .د پښو لاندی  یې وار ې کېږ کېږ کوی.

ده تر  لېرى لېرى بېله دې چې بانه وریوي  سترګې لغړولې خو  نا څواني سپیني واورې  به یې د سترګو نور ترې یووړ.

دا پنځه کاله کیرى  لامنتظر دئ هره ورځ  په پرسیدلو سترګو د یوې ګړی لپاره سترګې نه تړی، لاره څارې تر لېرو لېر و  پورى ښې او کینې پلو ته ګوري تر هغه چې یې د ستر ګو دید نا څوانه واوره یوسی، بیا سترګې پوټې کړي  څه هوا له خولې وباسي او ژر بیاسترګې خلاصې او لاره څاري  .



www.tanzona.com

# بخت

**فوکلوری کیسه**

چې وو نه وو یو سپیره بزګر وو،چې جانان نومېده له تنګدستی یې  یوه یې نه دوې کېده .یوه ورځ د پټیو خواته رهي وو، یو نابلده سړی یې ولید چې د ده د تربور په پټي کې یې کوم شی کري. دی د هغه خوا ته ورغلی د هغه نه یې په شک سره وپوښتل:

ته څوک یې او دلته څه کوې ؟

هغه و رته وویل: زه ستا د تربور بخت یم او د هغه په پټي کې برکت کرم .

ده ورته وویل :

-هین

نو جانان دهغه پښې ونیولی او بوغارې یې کړې  او په زاریو زاریو یې ورته  ویل :

نو زما بخت چیرې دئ؟

هغه ورته وویل: ستا بخت په یوه کنده کې سوټې بوټې پروت او ویده دئ .

هغه د بخت نه وپوښتل:

– هغه ویده دئ ؟
آه خدایه ! ولې هغه ویده دئ ؟

اوله بخت ته یې په ژړا ژړا  وپوښتل:

- هغه په کومه کنده کې ویده دئ؟



www.tanzona.com

بخت لاس د لمر خاته خواته ونیوی اوورته یې وویل:

- چې داسې ولاړ شې څه څه لومړی یو ځنګل راځي

- ښه بیا!

- هو ! د هغه وروسته بیا باغونه، او بیا یوه پاچاهی ده بیاشنې غونډي راځي د هغه نه چې تېر سې بیا یو سیند دئ د هغه چې تیر سې هلته ستا بخت په یوه کنده کې خوبونه کوي.

جانان وویل :

هین

دجانان لکه فاتح موسکا پر شونډوخپره سوه . د سفر موزې یې په پښو کړې او په ګډو وډو لاروو هله هله د خپل بخت پسې رهي سو، څه سر د ي پرله ګرځوم،تی تی تر څو یو بې سرو پایه ځنګله ته ورسیدهلته یو زمر ی ړغ پرې وکړی:

سلام ، سړیه !خدای دي راوله!

د خیره چیري ځې؟

جانان په موسکاورته وویل:

ځم خپل بخت پیداکوم !

زمری سوړ اسویلی وکیښ او و رته یې

وویل :

ما اوریدلي دي چې بخت په هر څه پوهیږی، چې بخت دې پیدا کی د هغه نه پوښتنه وکه چې د ځنګله زمري ویل:

زما خوراک دا کوشنی کوشنی هوسیانې دي خو بیا هم نه چاغیږم ما ته دي ووایي چې څه وکم.



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

زمری د جانان ښه عزت وکړی‌او هم یې تر ځنګله تر پایه پوری بدرګه کړی .

جانان ګامونه چټک کړه هله هله تی تی، څه سر د ي پرله ګرځوم هغه وو چې سپېدی مهال یو بلي سیمې ته چې هلته باغیستان و ورسید او یو باغوان په ده ناري کړه:

هو سړیه! سلام علیکم خدای دي راوله!

د خیره چیري ځې؟

جانان په موسکاه ورته وویل:

واعلیکم سلام ځم خپل بخت را وینم وم هغه هلته ویده دئ.

باغوان د ده خواته و رغی او په زاریو یې ورته وویل :

وایي چې بخت په هر څه پوهیږی نو ته د هغه نه پوښتنه وکه په دې باغ کې زر د انارو ونې سته چې یو یې هم حاصل نه کوی علت یې څه دئ.

باغوان د هغه ډیر عزت وکړی او هغه یې تر ډیره بدرګه کړی د هغه نه د خدای په امانی نه وروسته جانان ګامونه چټک کړه هله هله تی تی څه سر د ي پرله ګرځوم تر ځو چې یو پاچاهي ته ورسید او پیره دارانو هغه ونیوی او باچا ته یې بوت .

باچا ورته ویل:

خدای دي راوله!

د خیره چیري ځې؟

جانان په موسکاورته وویل:

ولا ځم خپل بخت را وینم وم ،هغه هلته په یوه کنده کې ویده دئ.

پاچا ورته وویل:

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

وایي بخت په هر څه پوهیږی. د هغه نه پوښته وکه چې پاچا ویل زما زړه تل له گرومه ډک وي. څه وکم چې خوشاله شم؟

پاچا د جانان ډیر مېلمه پالنه وکړه هغه ته یې د سفر تول شیان برابر او په عزت یې رخصت کړی .

جانان تی تی هله هله څه سر د ي پرله گرځوم و شنو غونډیو ته ورسیداو هلته یې د یو آس شیشنهاری واوریدٍ هغه د ده مخي ته ورغی د ده نه یې وپوښتل:

خدای دي راوله!

د خیره چیري ځي؟

جانان په موسکا ورته وویل:

ځم خپل بخت را وپیش وم هغه هلته ویده دئ

آس ورته وویل:

زه د آسانو باچا یم دا ټولي شني غونډی زما دي او بیا هم زه کثرت نه کوم ته د بخت نه وپوښته چې څه وکم چې کثرت وکم؟

جانان ورسره وعده وکړه چې د ده د ربړ په هکله به د بخت نه پوښتنه وکړي .

جانان گامونه چټک کړه اوتی تی هله هله څه سر د ي پرله گرځوم یو سیند ته چې سر او پای یې نه مالومید ورسیده هلته د تیریدو لپاره کوم مانږو او ژاله هم نه وه ،هلته د یو پاڼ پر سر کیناست ، اریان دریان وو چې څه وکړي ،خو نا بوبره هلته یو غټ کب (ماهی) د اوبو سر را پورته کړ او جانان ته یې وویل:

خدای دي راوله!

د خیره چیري ځي؟

جانان په داسي حال کې چې اوړي یې پورته غورځولي په موسکا ورته وویل :

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

د سیند هاخوا تیریږم خپل بخت پیداکوم هغه هلته ویده دئ.

لوی کب یوسوړ اسویلی وکیښ او ورته یې وویل:

زه به تا له سینده تیر کړم خو ته د بخت نه وپوښته دا زما نفس تنګي ولي کیږې ځکه وايي بخت په هر څه پوهیږ.ی.

جانان ورسره ژمنه وکړه او او لوی کب جانان له سیند نه ها خوا تیر کړئ .

جانان ګامونه چټک کړه هله هله تی تی څه سرد ي پرله ګرځوم ګرځېد تر څو د لمر ځرک په وخت یې په یوه کنده کې یو ویده سړی ولید هغه یې وښورو‌ی هغه سترګي پرانیستي اوپه اریانی یې د جانان خواته وکتل سترګي یې وموښلی او په هېښتیا یې وویل :

ته جانان یې؟

هغه ورته وویل:

هو،

جانان چې په کالو کې نه ځایده له خوشالي نارې کړې :

هو زه جانان یم.او په زوره زوره یې وژړل

بخت ورته وویل:

دا ځای او ته؟

جانان په داسي حال کې چې ساه یې په اوږو شړله وویل :

آ ،ښه دا ته یې؟

زما خوار بخت یې.

او له د خوشالی یې چیغي کړې.

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

جانان ورته وویل:

ډېر نا ځوانه یې، زه هلته خوار او زار یم او ته دلته خپل خوبونه کوې .

بیا ورسره کښېناست اود لاري تېوله کیسه یې ورته وکړه .

بخت سینه په سوک ورته وډبوله: ښه ته ځه! زه در سره یم خو دلېر عقل نه کار اخله !،چې کار دی جوړ سي زه به هم بیغمه سم او ته به هم.

سپېدی مهال جانان خوشاله بېرته د کور خوا ته رهي سو او هله هله ځه سر د ي پرله ګرځوم هغه و چې د سیند غاړې ته راورسید هلته لوی کب ورته سترګي په لار وو ،د سلام او روغبړ وروسته یې هغه په شا سپور اود سیند هاخوا یې تیر کی او د جانان نه یې وپوښتل:

-تا بخت پیدا کی ؟

جانان ورته وویل :

هو.

تا زما د ربړ په هکله ترې وپوښتل ؟

هغه ځه ویل؟

جانان ورته وویل:

هغه ستا د مشکل په هکله وویل: ستا په ستوني کې یو غټ یاقوت بند دئ که ته ډیري اوبه په یو وارتیري کړې او په یوه سا یې بیرته له خولې وباسې دا یاقوت به ستا له ستوني ولوېږي.

لوی ماهی هم ډیري اوبه تېري او هغه یې په یو وارله خولې نه ویستلی او یو لوی یاقوت د هغه له خولې نه راولوید.

کب جوړ سو او جانان ته یې وویل:



www.tanzona.com

واخله دا یاقوت یې ستا، د دې بیه د یوې پاچاهي ده !
آه ، ښنګه خوښه دي نه ده؟!

جانان پزه پورته ونیوله او په ملنډیزه خندا یې رټ ځواب ورکړ:

-یاه، زه دا څه کوم ،اوس زما بخت را ویښ سوی دئ زه دې شیانو ته اړتیا نه لرم.

او رهي شو او هله هله د کور لاره یې پر مخه واخیستله شنو ورشو ته راورسید هلته آس د ده مخي ته چارنغله(په غبرګو) راغی او د خوشالی یې وشیشنل او ورته یې وویل :

خدای دي راوله!

په خیر یې!

خپل بخت دي وموند؟

هغه څه ویل؟

هغه زما د مشکل په هکله څه وویل:

جانان د روغبړ نه وروسته هغه ته وویل:

بخت ویل که آس یو خاوند ځان ته پیدا کی چې پر هغه سپور سي نو د هغه دا ناروغي به له منځه ولاړه سي.

آس خپله ښوی لکی ورته وښوروله و رته یې وویل:

راځه ته یې زما بادار او خاوند ته راباندی سپریږه او دا توله و رشو یې هم ستا او په زر ګونه آسان لرم هغه یې توله ستا، آه ، ښنګه خوښه دي نه ده؟!

او زه به دي تر کوره هم ورسوم جانان خبري ورغوځي کړې.

د آس له تینګار سره یې چې خوابدی سو ،جانان ورته وویل :



www.tanzona.com
Copyright: www.tanzona.com

یا، یا، دا شیان زماپه کار نه دي اوس زما بخت وینس  سوي دئ.
او هله هله څه سر د ي پرله ګرځوم په خپله لار رهي سو هغه  و چې پاچاهي ته راورسید هلته پیره دارانو هغه په ډیر عزت و دربارته بوت او باچا د هغه ډیر قدر وکړی  او د ده په ویاړ یې یوه لویه مېلمستیا جوړه کړه او چې کله د شپې لخوا ټوله رخصت سول ، باچا او جانان یوازي سول نو باچا د هغه نه وپوښتل:

تا خپل بخت وموند؟

جانان ورته وویل:

هو

-هغه څه ویل؟

هغه ستا د مشکل په هکله ویل:

دا پاچا نر نه ښځه ده نو که دا د یو ځوان سره واده وکړي نو خوشاله به سي.

پاچا سترګې د اوښکو ډکې سوې د غوږو شا یې وګروله او جانان ته یې وویل:

زه چې وړیړیدم زما پلار د رعایا نه شرمیده چې هغوی ته وایي د هغه لور پیدا سوه نو اعلان یې وکړ د هغه زوی پیدا سو او د هغه د مړینې وروسته  زه باچا سوم تر اوسه د باچا په نامه یم او بیا یې  له سره یې تاج لیر ي کړتوري زلفې یې پرمخ را خپرې سوې او په غمبور وکې یې سورخی وځغلیده هغه  یوه چته ښکلې  پیغله وه .

او ده ته یې  وویل:

دا چې ته لومړی څوک یې چې پوه سوی زه ښځه یم راځه ته هم جره یې  زما سره واده وکه! ته یې پاچا او زه یې ستا ملیکه ،ته پوهیږی او دا پاچاهی. آه ، څنګه خوښه دي نه ده؟!

جانان چې په نوکانو یې دیوال ګرړی په شرم  سره یې خبرې ورغوڅې کړې  او ویې وویل:

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

-زه ستا باچاهی څه کوم زما بخت اوس ویښ سوي دئ.

باچا ورته وويل :

نو وې دي !

تا نه خوابدی کومه!

او د باچاه له تینګار سره سره يې د هغه نه رخصت واخيست او هله هله د خپل مزل په لور په چټکو ګامو رهي سو.

هله هله څه سر د ي پرله ګرځوم نو بيا هغه وو چي د باغيستان ښار ته ورسيد او هلته باغوان دنغري په غاړه ناست د ده انتظار يي کاوه د هغه سره يي روغبړ وکړ او هغه ته يي وويل :

هو ! خدای دي راوله!

په خير يې؟

اوخپل کور ته يي بوت د ډوډۍ خوړولو وروسته يي له جانان نه وپوښتل:

تا خپل بخت پيدا کی؟

- هو.

- هغه زما د مشکل په هکله څه ويل؟

هغه ويل د هرې ونې لاندی يو دسرو زرو خوم ښخ دئ که هغه راوباسې دا ونې به په حاصل راسي.

باغوان د يوې ونې لاندی مځکه وکندله ربنتيا د هغه لاندی د سرو زرودک خوم ښخ وو

نو هغه و جانان ته وويل:



www.tanzona.com

راځه دا نیمایی ونې یې ستا او نیمایی یې زما په دواړه به دا خومونه راوباسو آه ، څنګه خوښه دي نه ده؟!

جانان وتوخل اوپزه یې پورته ونیوله په ملنډیزه موسکا یې رتې ځواب ورکی:

یاء یا زما بخت اوس را ویښ سوي

دئ زه دي شیانو ته اړتیا نه لرم .

او هله هله څه سر د ي پرله ګرځوم د لمر لویدو سره ځنګله ته ورسید هلته زمري ده ته سترګې په لار وو په خوشالی ورته غوړمبید او هغه یې خپل غارته بوت هغه ته یي وویل:

اوه خدای دی راوله!

آه ښه هاخواڅه کیسي وې؟

جانان هغه ته د لارې تېوله کیسه و کړه:

زه چې ولاړم په سوځنده لمر کې مې لس ورځي مزل وکی چې باغستان ته ورسیدمه

...نو بیا

... هو...

او په خندا خندا یې وویل:

ما دا تېوله وړاندیزونه رد کړل

د زمري له تعجبه خوله ویته ورته پاته وه او وویل یې :

ښه نو بیا

جانان ورته وویل:

هو نو هغه وو چې دلته راورسیدم



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com

زمري وويل :

نو بخت زما د مشکل په هکله څه وويل؟

-هو رښتيا هغه ويل :

که دا زمری د دنيا تر ټولو ساده سړی وخوري هغه سميږي.

دزمري سترګې لارې وکړی، تندی يې ږون او روشانه سو او په جانان يې ور ټوپ کړ

جانان د پانې غوندی رپيدی خولې خولې سو او په وارختايي يې وپوښتل:

اوف،واخ څه کوې؟

زمري د جانان پر سينه منګولې ښخې کړې جانان چې نوره يې زبانګويی تړل سوې وه مری مری زمري ته کتل زمري د هغه پر سر پريوت او په داسې حال کې چې د هغه په غاړه يې دارې ښخولې له ځان سره په غوم غوم و ويل:

د ده نه بل ساده چيری و.

کيسی ولاړه په کولک ننوتله

او زه راغلم په تلتک ننوتلم

Copyright: www.tanzona.com



www.tanzona.com

# وږه انجلۍ

وږه انجلۍ نوره هم پر غوا ومښتله چې ځان پرې تود کړي ،هغې هم لکه سکه مور غېږ ورته پرانیستله .

په غوجله کې توره تیاره وه او د یوه کولک نه د سپوږمۍ رڼا لوېدلې وه په غوجله کې د خوشبیو خړوسکې پورته کېدې . هلته یو برګ خر او دوې وږې پلنې وې او د ښخوند په ژبه یې یو د بله سره د زړه خواله کوله.

سها روختې د ملاپه اذانو د غوجلې توره پنده پینه یې پرده پورته سوه او دوې توري سترګې را ښکاره سویې او لکه ترهیدلې سوی بهر یې وکتل او بیرته ننوتله او څو واري یې داسې وکړه او بیایې لکه تاټ کمیس را ښکاره سو منده یې کړه او د ویالې په اوبو کې خرچلکې کړې او په منده بېرته غوجلې ته ننوتله او په هغه ماته زمونځ چې په پرورو کې یې موندلې وه لومړی د غوا بیا د خره او بیا د وزو وښتان یو د بل پسې ږمونځ کړل.

او بیا لکه تل د تورۍ د راتلو ږغ سو تورۍ به هره ورځ هغې ته سوکړک ، کوروت په پلو کې پټ د خدای له و یرې راوړله او نن یې هم له پلو نه هغه ته څه وچ توتان ورکړه او کله کله یې هغې ته یو غړوپ شیدې هم پرېښودې .

د هغې د راتګ په وخت کې به وږه انجلۍپه دوو پښو ودریدله.

چې کومه ورځ به لمر و د ګاوند د کور وږې انجلۍبه له بامه هغې ته میده سوې ډوډۍ لکه چرګانو ته اچوله . هغې به دا میده ډوډۍ راټولوله اوله ختوسره خوړله .

پرون هغې دا میده ډوډۍ ټولوله چې د غوجلې خاوندخان هغه د غوجلې نه بهر ولیده او څو لغتې اوسوکان یې پر ملا، سر او پښو وواهله.



www.tanzona.com
Copyright: www.tanzona.com

د هغې ټوله شپه اېشدلې تبه وه او بدن يې درد کوی.

نن يې بيا د غرمې له خوانه لکه پرون د پېنو ږغونه تر غوږ سوله.

د دې په ګمان بيا د غوجلې خاوند خان د دې وهلو ته راغلی.

دا د اوخور و ځنګ ته غلې کېناسته او مخ يې په لپه پټ کړ اوپه پټو سترګو يې لېده چې خان د دې خوا ته راځي او دا وهي .

د پېنو ږغونه نور هم را نږدې سول او يو لاس دا له اوږې ټينګه ونيوله.

دې چيغې کړې او په کونکه ژبه يې زارۍ کولې چې نوره له غوجلې نه نه وځی يو تن له بل نه وپوښتل :

- هغه انجلۍ دا ده ؟

- هو، دا هغه انجلۍ ده چې پلار يې د خان د لور سره بد نام سوی دئ پلار يې بندی او لور يې دا دوه کاله خان په غوجله کې بندۍ کړې ده.

پوليس د هغې مخ ته وکتل د هغې ايشولی تبه وه او هغه هم په همدې سن لور درلوده نو هغه يې نوره هم پر ځان ومښلوله او هغې ته دا غيږ ډېر خوند ورکړ او سترګې يې پرانيستلې او د خولې نه يې په خوشالۍ ووتل:

- بع بع.....



Copyright: www.tanzona.com
www.tanzona.com